پرمختللې ایډیټ شوې بڼه

فبروري ۲۰، ۲۰۲۵

اصلي بڼه: انګلیسي ژبه

پرمختللې ایډیټ شوې بڼه

د بشري حقونو شورا

اته پنځوسمه غونډه

۲۴ فبروري – ۴ اپریل ۲۰۲۵

د اجنډا دوهمه موضوع

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر کلنۍ راپور او د عالي کمیشنر دفتر او د سرمنشي راپورونه

د افغانستان د بشري حقونو وضعیت

د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه د ځانګړي راپرورکوونکي ریچارډ بېنیټ راپور*

لنډیز

په دغه اوسني راپور کې چې د بشري حقونو د شورا د پریکړې ۳/۵۷ له مخې جوړ شوی، د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه ځانګړي راپور ورکوونکي ددې هیواد عمومي وضعیت بیانوي په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو، مدني فضا او د اقلیتونو حالت ته پام کوي. دغه راپور د ۲۰۲۴ کال د اکسټ له ۱ څخه تر دسمبر ۳۱مې پورې موده پوښي چې د شورا او عمومي اسامبلۍ ته وړاندې شویو پخوانیو راپورونو پر بنسټ جوړ شوی دی. ځانګړي راپور ورکوونکي د پریکړه لیک ۳/۵۷ له مخې، امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون په اړه یو جلا څېړنیز راپور هم چمتو کړی دی. الف

الف A/HRC/58/74

* اوسنی راپور د پروسس کولو لپاره د تاکل شوي وخت څخه وروسته کنفرانس خدماتو ته وراندې شو، ترڅو پکې تر ټولو تازه معلومات شامل شي.

I. سریزه

۱: د افغانستان د بشري حقونو بحران له اګست ۲۰۲۱ راهيسې، کله چې طالبان واک ته ورسېدل، په پرلهپسې توګه خراب شوی دی. د ځانګړي راپور ورکوونکي د پخواني راپور وروسته[1]، د ښځو او نجونو پر وړاندې سخت محدوديتونه نور هم زيات شوي او رسمي بڼه يې خپله کړې، لکه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون[2]. په افغانستان کې مدني فضا په چټکۍ سره مخ په تنګېدو ده، طالبان د رسنيو او مدني ټولنې سازمانونو ته په آزادانه ډول د فعاليت اجازه نه ورکوي. ژورنالیستان، فعالان، اکادمیک شخصیتونه، لیکوالان او هنرمندان د نامشروع نیولو او ناوړه چلند له جدي خطر سره مخ دي. اقليتونه له پامه غورځيدو، محدود استازيتوب، تبعيض او د مناسبې ساتنې له نشتوالي سره مخامخ دي. د وخت په تېرېدو، لا زياتې نجونې د زده‌کړې له حقه محرومېږي، چې د شپږم ټولګي څخه پورته د زده‌کړې اجازه نه‌ورکول کېږي. بديلې زده‌کړې، لکه مدرسې يا آنلاين زده‌کړې، دا تشه نشې ډکولی. د ماشومانو د جبري ودونو، جبري کار، ناوړه کټې اخيستنې او قاچاق خطرونه زيات شوي دي. د پخواني حکومت ملکي او امنيتي کارکوونکي د غچ اخيستو له خطر سره مخ دي. يو بشري او اقتصادي بحران، چې د نړيوالو بنديزونو او د طالبانو د تکلارو د اغېزو له امله رامنځته شوی او د اقليمي بدلون او چاپېريالي ستونزو له کبله يې لا پسې شدت موندلی، د افغانانو د خوراک، روغتيا او کار حقونه سخت زيانمن کړي دي.

۲: کله چې د بشري حقونو موضوع مطرح شي، طالبان اکثره يا سخت رد غبرګون ښيي او يا يې له بحث کولو ډډه کوي. دوی سرغړونې "کورنۍ مسائل" بولي او نيوکې "د اسلام ضد" ګڼي. طالبان وايي چې بشري حقونه ساتي، خو يوازې د شرعي قوانينو د دوی د سخت تعبير له مخې. د افغانستان خلک د قانوني رونټيا له نشتوالي سره مخ دي او د وېرې او ځارنې تر سيوري لاندې ژوند کوي، ځکه چې قوانين په سخت او ناهمغږي ډول تطبيقېږي، چې پکې د بدن سختې سزاګانې او اعدامونه هم شامل دي.

۳: د پورته ذکر شوو منفي پرمختګونو سربېره، داسې ښکاري چې نړيواله ټولنه د طالبانو حکومت ته د غير رسمي مشروعيت ورکولو او عادي تعامل پر لور روانه ده. په همدې حال کې، هغه مالي مرستې چې د افغانانو د بشري او اساسي اړتياوو د پوره کولو لپاره ضروري دي، مخ پر کمېدو دي، چې ميليونونه خلک له جدي خطر سره مخ کوي.

۴: ډېرى افغانان، په ځانګړي ډول ښځې، که په هېواد کې دي يا له هېواده وتلي، ځانګړي راپور ورکوونکي ته ويلي چې دوی ځان له پامه غورځيدلی احساسوي او د خپل هېواد د راتلونکي په اړه پرېکړو کې يې غږ نه اورېدل کېږي .دوی غوښتنه لري چې د افغانستان په اړه ټولو نړيوالو بحثونو او پرېکړو کې فعال او مؤثر رول ولري، چې پکې د امنيت شورا له خوا ټاکل شوو خپلواکه ارزونو پر اساس د سپارښتنو پلي کول[3]، د دوحې غونډو کې ګډون، او د ښځو، سولې او امنيت اجنډا کې شاملېدل شتون لري.

۵: يو څه هيلې لا هم شته. اقتصاد د پخوا په پرتله دومره د سقوط په حال کې نه ښکاري، چې يوه مهمه وجه يې د اوسني حکومت د عوايدو راټولولو هڅې او د فساد ضد اقدامات دي. خو تر دې دمه، دې پرمختګونو د افغانانو د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو په شا والي کې محسوس بدلون نه دی راوستی. د خلکو خوراکي، امنيت، روغتيا، زده‌کړو او خوندیتوب لپاره لا هم بېړنۍ مالي مرستې ته اړتيا ده. د طالبانو له بنديز وروسته، د نشه‌يي توکو توليد د پخوا په پرتله خورا کم شوی، خو هغه کروندګر چې پخوا يې کوکنار کرل، لا هم د دوامداره بديل ژوند لپاره مناسب فرصتونه نه لري.

۶: ځانګړي راپور ورکوونکي د نړيوالې حساب ورکونې په برخه کې مثبت پرمختګونه څرګند کړي، په ځانګړي توګه د نړيوال جزايي محکمې د ځارنوال له خوا د نيولو د وارنټونو غوښتنه او د ښځو پر وړاندې د تبعيض له منځه وړلو تړون لاندې د حساب ورکونې نوې ابتکار چې ښايي د نړيوال عدالت محکمې ته د قضيې وړاندې کولو سبب شي. دغه پرمختګونه د هغو کسانو د محاسبې لپاره يوه مهمه پيل دی چې د افغانستان د خلکو پر وړاندې د رامنځته شوې ځوروني او ظلم کې يې برخه اخستې او همدارنګه د هغو کسانو د جبران لپاره چې دېر ځوربدلي له سختو زيانونو سره مخ شوي دي.

۷: ځانګړي راپور ورکوونکی د هغو افغانانو د زغم او مقاومت ستاينه کوي، چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ د شا راتلونکي ترلاسه کولو لپاره خپلې هڅې نه دي کمې کړې. هغه له ځوانو افغانانو سره اړيکه ساتي، چې د خپل هېواد د وضعيت د شا والي لپاره کار کوي، او له هغو معترضينو او فعالانو سره چې د خپلو حقونو په زورتيا دفاع کوي، غږ يې بايد لا پسې پياوړی شي.

---

[1] A/79/330

[2] د نورو معلوماتو لپاره دا وګورئ .A/HRC/58/74

[3] S/2023/856 ضميمه وګورئ

II. کاري میتودونه (طریقې)

۸. دغه اوسنۍ راپور چې د ۳/۵۷ پرېکړه‌لیک له مخې د ځانګړي راپور ورکوونکي د پخوانیو راپورونو پر بنسټ جوړ شوی، چې د بشري حقونو شورا او عمومي اسمبلۍ ته وړاندې شوي وو، او همداغه کاري میتودونه کاروي[4]. ځانګړی راپور ورکوونکی یادونه کوي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون په اړه نور معلومات په یو جلا ځېرنیز راپور کې پیدا کیدای شي[5]، چې د شورا له لورې په پرېکړه لیک ۳/۵۷ کې هم وړاندې حکم شوی دی.

۹. دغه اوسنی راپور مشخصې برخې په ګوته کوي، او هغه موضوعات چې پکې شامل دي، په راتلونکو راپورونو کې به بدلون ومومي. دا طریقه ځانګړي راپور ورکوونکي ته امکان برابروي چې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه ژور معلومات او تحلیل وړاندې کړي. هغه ټینګار کوي چې په یو ځانګړي راپور کې د ځینو موضوعاتو نه شاملول د هغوی د اهمیت کمښت په معنی نه دي.

۱۰. ځانګړي راپور ورکوونکي د افغانستان دننه او بهر له کنبو افغان استازو سره، هم حضوري او هم په آنلاین ډول پراخې اړیکې ساتلې دي. هغه د اړوندو غړیو هېوادونو څخه منله کوي چې د هغه د رسمي سفرونو لپاره یې اسانتیاوې برابرې کړې، چې په ترکیه (اګست ۲۰۲۴)، قطر (سپتمبر ۲۰۲۴) او کانادا (اکتوبر ۲۰۲۴) کې ترسره شوي، او په اسیا، اروپا او شمالي امریکا کې یې سفرونه وکړل ترڅو له تازه را رسیدلو افغانانو سره ووینې او په مختلفو غونډو او کنفرانسونو کې کډون وکړي.

۱۱. د راپور ورکولو په موده کې، ځانګړي راپور ورکوونکي د خپل ماموریت د معلوماتو راټولولو او ساتنې په برخه کې نورې هڅې کړي دي. هغه د مستند کولو لپاره نورو سفرونو ته هم تللي، آنلاین مرکې یې کړې، او د پرانیستې سرچینو او غیر علني (څرګند) معلوماتو د ثبت لپاره یې د خوندي ډیجیټل سیستم کارولی.

۱۲. ځانګړی راپور ورکوونکی بیا هم د حاکمو چارواکو څخه غوښتنه کوي چې د هغه د افغانستان ته د سفر اجازه ردولو په اړه بیا نظر وکړي. هغه بیا تاکید کوي چې د دوی دریځ د افغانستان د خلکو په ګټه نه دی او دا د طالبانو د ورتیا او ارادې په اړه، چې خپلې نړیوالې ژمنې پوره کړي، منفي پیغام رسوي. ځانګړی راپور ورکوونکی د حاکمو چارواکو سره د اړیکو جوړولو ته ژمن دی، چې پکې د راپورونو، څرګندونو او خبرې اعلامیو شریکول، د انفرادي قضیو په اړه شکایتونه او د بشري حقونو اړوند معلومات ترلاسه کول شامل دي.

III. د راپور مهمې برخې

الف. ښځې او انجونې

۱۳. طالبانو د ښځو او انجونو پر وړاندې په دوامداره توګه خپل سخت ظلم او تبعیض پلی کوي چې په نورو هېوادونو کې یې ورته مثال نه لیدل کېږي. د طالبانو د جنسیتي ظلم او تبعیض دواړه پراخه او سیستماتیک دي او ممکن د بشریت ضد جرمونه وي، په ځانګړې توګه د جنسیتي اذیت جرم، چې د نړیوالې جزایي محکمې ځارنوال د طالبانو د دوو مشرانو د نیولو وارنټونه غوښتې دي. ځانګړی راپور ورکوونکی هم د جنسیتي توپیر د بشریت ضد جرم په توګه قانوني کولو لپاره خپل ملاتړ بیا تکراروي.

۱۴. د ۲۰۲۴ اګست په میاشت کې، طالبانو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون اعلان کړ، چې د ښځو او انجونو لپاره د ژوند مختلفو برخو باندې محدودیتونه وضع کوي، او همدارنګه د نارینه وو، مذهبي اقلیتونو، رسنیو او نورو لپاره هم ځینې محدودیتونه تاکي[6]. د ښځو او انجونو لپاره، ځینې محدودیتونه مخکې هم موجود وو، چې په ځینو ولایتونو کې یې توپیر درلود. خو ځینې نوي محدودیتونه هم معرفي شول، لکه د ښځو او انجونو لپاره د کورونو څخه بهر په سندرو او خبرو کولو بندیز، او دا چې هر سفر کې باید د محرم سره سفر وکړي.

۱۵. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ښځو او انجونو د ژوند په ټولو برخو ژور اغېز لري. د قانون تر اعلانېدو وروسته، ځانګړي راپور ورکوونکي د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه د ښځو او نارینه وو راپورونه ترلاسه کړل، چې د محتسبینو (چې د دې قانون د تطبیق مسؤل دي) حضور زیات شوی او د

---

[4] د نورو معلوماتو لپاره د A/79/330 راپور ۶-۱۰ پاڼې وګورئ.

[5] A/HRC/58/74.

[6] A/HRC/58/74

محدوديتونو تطبيق لا سخت شوی دی[7]. د دې قانون اغېز يوازې د طالبانو د لا زيات تطبيق له لارې نه ارزول کېږي، بلکې په ډېرو مواردو کې، افغانان پخپله د دې قانون مراعت کوي، يا د کورنۍ غړي يې پر تطبيق ټينګار کوي، ترڅو له طالبانو سره د احتمالي شخړې مخه ونيسي.

د روغتيا حق

۱۶. د دسمبر په پيل کې، د طالبانو حکومت يو نوی امر صادر کړ چې له مخې يې ښځې نشي کولی په خصوصي طبي زده‌کړيزو موسسو کې کډون وکړي. دا پرېکړه شاوخوا ۳۵,۰۰۰ ښځې اغېزمنوي، چې د زده‌کړو د بندېز له لرې استثناوو څخه يې کټه اخيسته. دې اقدام پراخ غبرګونونه راوپارول، او د بدخشان، فارياب، هرات او تخار په ګډون يو شمېر ولايتونو کې يې د اعتراضونو لامل شو.

۱۷. دا لارښونه د ښځو او نجونو د تعليم، روغتيا، او کار حقونو ته بل غيرعادلانه محدوديت زياتوي. دا موضوع څکه ځانګړې انديښنه لري چې په افغانستان کې دوديزې اصول ښځې له نارينه ډاکټرانو څخه د درملنې اخيستو ته محدودوي. ښځينه روغتيايي کارکوونکي نه يوازې ښځو ته اړين طبي خدمات، لکه د زېږون، جنسي او توليدي روغتيا، برابروي، بلکې د ماشومانو د واکسين، عام روغتيايي خدماتو، او د ټولنې د پوهاوي لپاره هم مهمې دي.

۱۸. که دا لارښونه دوام وموميِ، نو د راتلونکو نسلونو لپاره به د ښځو او ماشومانو پر روغتيايي پايلو ناوړه اغېز ولري. ځانګړې راپور ورکوونکي او د ملګرو ملتونو نور ځانګړي استازي خبرداری ورکړی چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د روغتيايي خدماتو بنديز ښايي د ښځو د وژنې (فيميسايډ) لامل شي.

۱۹. د ښځو لپاره د طبي روزنې بنديز هغوی ته د روغتيايي خدماتو ته د لاسرسي موجوده لوېې ستونزې لا نورې هم پېچلې کوي، چې پکې د جنسيت پر بنسټ وېش، فقر، او د سرچينو او ظرفيت کموالی شامل دی، په ځانګړې ډول د ښځو ډاکټرانو، نرسانو، زاړه پالنکو او روان پوهانو کمښت.

۲۰. د ښځو د خپلواکۍ نشتوالی، د تک راتک محدوديتونه، او د درملنې لوړ لګښتونه، چې په کې د محرم شرط له امله نور اضافي لګښتونه هم راځي په دې مانا چې ښځې لپاره د روغتيايي خدماتو د لاسرسي په وراندې لوی خنډونه جوړوي. د محرم شتون هم د ښځو او نجونو لپاره د جنسي او توليدي روغتيا په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو توان کموي او دا کولی شي د کورني، شخصي، يا نورو جنسيتي تاوتريخوالو راپور ورکول ډېر ستونزمن کړي.

۲۱. د افغانستان د روغتيا سيستم د بهرنيو مرستو پر مټ چلېږي، خو دا مرستې مخ په کمېدو دي، چې وضعيت يې لا خراب کړی دی. د ټولنيزو دودونو له امله، افغان ښځې له پخوا راهيسې د خپلې روغتيا او د خپلو ماشومانو د روغتيا په اړه د تصميم نيولو خپلواکي نه لري. د ښځو روغتيا ته لاسرسی د هغه وخت راهيسې ډېر سخت شوي، چې طالبان واک ته رسېدلي. د کليو، غربيو سيمو او معلولو ښځو لپاره دا ستونزې لا زياتې اغېزناکې دي.

۲۲. ځانګړې راپور ورکوونکی د طالبانو د سختو محدوديتونو له امله د ښځو او نجونو د رواني روغتيا د زيانمن کېدو په اړه ډيره اندېښنه لري. هغه لا هم د فشار، اندېښنې، ژور خپګان، ځان وژنې او د ځان وژنې د فکرونو په اړه اندېښمن کوونکي راپورونه ترلاسه کوي، په خاص ډول د ځوانو نجونو او ښځو له لوري. د رواني روغتيا او ټولنيز ملاتړ د محدودو خدماتو له امله دا ستونزه لا پسې جدي شوې. يوې ځواني نجلۍ له کابل ځخه ځانګړې راپور ورکوونکي ته وويل: "زه غواړم ښوونځي ته لاړه شم، له خپلو ملګرو سره وخاندم، او داسې ځوک و اوسم چې بدلون راولي. خو دا محدوديتونه ما داسې احساسوي لکه زه بندۍ شوې يم او زما فکرونه او هيلې ترڅ شوي وي".

۲۳. د ښځو او نجونو لپاره د روغتيايي خدماتو ته لاسرسي، د زده‌کړو پر بنديز له امله نور هم اغېزمن شوی دی. روغتيايي کارکوونکو ځانګړې راپور ورکوونکي ته ويلي چې د شخصي حفظ الصحې، تغذيې، واکسينونو او حيض په اړه د زده‌کړې نه شتون به اوږدمهاله او سختې پايلې ولري او نه يوازې پر ښځو او نجونو بلکه ددوی په ماشومانو او راتلونکو نسلونو هم بده اغيزه لرلی شي. د معلوماتو، خدماتو او سرچينو ته لاسرسی نه ورکول، په ځانګړې توګه د جنسي او توليدي روغتيا په اړه، د روغتيا حق ځخه سرغړونه ده او د توليدي تاوتريخوالي يوه بڼه ګڼل کېږي.

ب. مدني فضا

۲۴. طالبان د بيان د ازادۍ په اړه جدي محدوديتونه لګوي او هېڅ ډول مخالف نظر يا اعتراض ته ځای نه ورکوي. دوی د مدني فضا پر ضد پراخه سانسور، کواښونه، ډار، تاوتريخوالی، بې اساسه نيونې او د موسسو بندول پلي کړي دي. افغانان چې لا هم په هيواد کې پاتې دي او د طالبانو په ضد دي، په ويره کې ژوند کوي، چې ډېرې بې ځان سانسور ته اړ کړي، ځايونه بدلوي يا دهيواد ځخه تښته کوي. دا همغږي شوې سرکوب د ټولو عامه بحثونو برخو ته غځېدلې ده، چې

[7] د حاکم وزارت امربالمعروف او نهی عن المنکر ځارونکي، د نورو معلوماتو لپاره A/HRC/58/74 راپور وګورئ.

په دې کې ژورنالیستان، رسنۍ کارکوونکي، د بشري حقونو دفاع کونکي، د مدني ټولنې غړي، احتجاج کوونکي، استادان، لیکوالان، هنرمندان، کتاب پلورونکي او شووونکي او همداراز د دوی کورنۍ هم اغیزمن شوي دي.

۲۵. افغانستان کې هغه میډیا چې له بهر څخه خپرونې کوي او د افغانانو لخوا اداره کیږي، د طالبانو د بندیزونو او محدودیتونو څخه د تېرېدو لپاره د تلویزیوني، راډیو او انټرنیټ له لارې په انلاین طریقه خپرونې کوي. د افغانستان دننه، طالبان هغو کسانو ته ګواښ کوي چې د دې میډیا سره همکاري کوي او دغه چینلونه او فعالیتونه یې غیر قانوني ګڼلي. ځانګړې راپور ورکوونکي د هیږید میډیا اهمیت ته اشاره کوي، ځکه چې دا د خپلواکو خبرونو خپرولو او د مخالفو نظرونو څرګندولو لپاره یو مهم وسیله ده. هغه د هېواد دننه د ژورنالیستانو د زړورتیا ستاینه کوي چې د سختیو سره سره، خپلو هڅو ته دوام ورکوي تر څو دقیق راپورونه وراندې کړي.

۲۶. افغانانو ویلي چې د طالبانو لخوا هم د انټرنیټي او هم د حضوري څارنې لپاره خبرداری ورکړل شوی، او د مخالفو نظرونو د تعقیب لپاره له جاسوسانو کار اخلي، په ځانګړې توګه په ټولنیزو رسنیو کې. د رسنیو او مدني ټولنې فعالانو ځانګړې راپور ورکوونکي ته ویلي دي چې په ټولنیزو رسنیو کې انتقادي پوست کول ممکن دوی او د دوی د کورنۍ غړو لپاره د کور لټون، بې اساسه نیول او بندیز رامنځته کړي. زیاتره کسانو ویلي چې طالبان د ډیجټل حفاظت تدابیر نیسي، او ممکن په چیک پوائنټونو کې موبایلونه ولټوي. دې حالت د ټولنو دننه د وېرې فضا رامنځته کړې ده، او همداراز د ځان سانسور کولو عمل پیل شوی دی. حتی بهر کې هېشت افغانان هم د خپلو کورنیو د خوندیتوب لپاره ځان سانسور کوي.

۲۷. د مدني فضا سقوط د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه چلندونو د ثبتولو لپاره لوی خنډ جوړ کړی، ځکه چې سانسور، ځان تنظیمونه، او د افغانانو او د دوی د کورنیو پر ضد د غچ اخیستنې وېره شتون لري، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې له ملکرو ملتونو او د ځانګړې راپور ورکوونکي له ماموریت سره همکاري کوي.

۲۸. ځانګړې راپور ورکوونکي، د افغانستان لپاره د ملکرو ملتونو د مرستې مأموریت ((UNAMA، نور بشري حقونو میکانیزمونه او د رسنیو اداري د ژورنالیستانو، فعالانو او د بشري حقونو د مدافعینو بې اساسه نیونې، تاوتریخوالی، خورونې او بد چلند راپورونه مستند کړي دي. د بېلګې په توګه، طالبانو د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۱۷ مه د تعلیم فعالان احمد فهیم عظیمي او صدیق الله افغان بې اساسه نیولي وو. دوی شاغلی افغان د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۹ مه خوشې کړ او شاغلی عظیمي بې د سپتمبر په ۲۶ مه خوشې کړ. په یوه بله پېښه کې، جاوید کوهستاني، چې یو مشهور سیاسي تبصره کوونکی دی، د طالبانو د نیوکې پر اساس بې اساسه ۲۰ ورځې نیول شوی و. هغه د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۱۵ مه خوشې شو.

۲۹. په افغانستان کې د رسنیو د آزادۍ په اړه د UNAMA راپور په ځواب کې ، طالبانو ویلي دي چې د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو نیونه ځکه شوې چې "خلک د نظام پر ضد عمل کولو ته هڅوي، حکومت ته بدنامي ورکوي، غلط او بې بنسټه راپورونه ورکوي، په رسنۍ کې د نظام دښمنانو سره همکاري کوي، او د نظام پر ضد رسنیو ته مواد ورکوي".

۳۰. څو موده کیږي چې احتجاج کوونکي د انتقام له وېرې خپلو اعتراضونه پټ ځایونو کېکوي. افغان ژورنالیستانو، د رسنیو کارکوونکو او فعالانو چې دننه او بهر د هېواد فعالیت کوي، د خپلو کورنیو د امنیت په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي او د خپلو عزیزانو د ساتنې لپاره یې خپلې نومونه بدل کړي یا یې د راپورونو له خپرولو څخه منع کړې ده. د بېلګې په توګه، یو پشتون سیاسي فعال ځانګړې راپور ورکوونکي ته وویل چې د افغانستان په ختیځ کې د عدم تشدد غورځنګ یو غړی د طالبانو له خوا د ټولنیزو رسنیو په پوسټونو د کواښونو سره مخ شوی. "هغه اوس پټ دی. د هغه کورنۍ له هغه څخه ښکله شوې ده ځکه چې هغه د غورځنګ لپاره کار کاوه. هغوی د خپل امنیت لپاره غواړي چې له هغه سره هیڅ اړیکه ونه لري".

سانسور (د بیان ازادي محدودول)، مداخله کول ، ترل

۳۱. یو افغان ژورنالیست چې د افغانستان نه بهر د یو افغان میډیا سازمان لپاره کار کوي، ځانګړې راپور ورکوونکي ته وویل: "په افغانستان کې د آزادې مطبوعاتو حالت په ټوله کې له صفر سره برابر دی." د ژورنالیستانو او میډیا کارکوونکو پر ضد تاوتریخوالی، ډار او سخته سانسور، او د میډیا سازمانونو بندول، د دې لامل شوي چې د افغانستان میډیا اداري او کارکوونکي د طالبانو د غوښتنو سره سم په جدي توګه عمل وکړي.

۳۲. طالبانو د میډیا پر وړاندې محدودیتونه د لارښوونو او پروسیجرونو له لارې او همدارنګه د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون له لارې پلي کړي دي. د حاکمو چارواکو لخوا په پراخه کچه هر هغه خپرونې منع شوي چې د اسلام یا شریعت مخالف وي، مسلمانان تحقیر کوي یا داسې خپرونې چې د عامه نظر په اړه منفي اغېز لري. د دې لارښوونو سخت تطبیق او پراخه او مبهم تعریفونه د ځان سانسور کولو لامل کړې.

۳۳. د طالبانو د اصولو پلي کولو کې د حاکمو چارواکو لخوا د خپرونو وړاندې پراخه څارنه او تفتیش، او بیا له خپرېدو وروسته تهدیدونه او سزاګانې شامل دي. یو افغان ژورنالیست چې اوس بهر ژوند کوي، ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل: "د طالبانو د مطبوعاتو پر وړاندې محدودیتونو زموږ کار خورا ستونزمن کړی دی. موږ نور نه شو کولی په ازاده توګه راپورونه خپاره کړو، او د نیول کېدو یا بد تره کیدو ویره زموږ سره تل پاتې ده. زموږ کیسې خاموشې دي، او اړ یو چې په یو داسې چاپېریال کې ژوند وکړو چېرې چې رښتیا یو جرم ګڼل کېږي".

۳۴. د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون له امله، د ښځینه ژورنالیستانو، د رسنیو کارکوونکو او هغو ښځو پر وړاندې محدودیتونه نور هم زیات شوي چې د رسنیزو پروګرامونو لپاره بلل کېږي. چې دغه محدودیتونه تر دېره حده رسمي شوي او د ښځو غږونه په عامه ځایونو کې بند او منع شوي. د دې قانون پلي کول او تشریح تر اوسه پورې بې ثباته ده او په ببلابېلو ولایتونو کې په مختلفو بڼو عملي شوي دي. د شمالي افغانستان د یو راډیو شبکې مالک ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل چې که څه هم د طالبانو د پخوانیو لارښوونو له مخې د ښځو لپاره بشپړ جلاوالی مراعت شوی و، خو سختو محدودیتونو دا ناممکنه کړې چې د ښځو لپاره جلا راډیو پروګرامونه خپاره شي. راپورونه ځرګندوي چې ځینې وختونه میډیا سازمانونه ښځینه ژورنالیستانې د هغوی د جنسیت له امله له دندې لرې کوي یا یې نه استخداموي.

۳۵. د میډیا سازمانونه باید یوازې هغه شنونکي راوبولي چې د طالبانو له‌خوا تایید شوي وي یا له دوی څخه یې د اجازې غوښتنه وکړي. د افغانستان خبرې اژانس، د امنیتي اندېښنو له امله، اکثره وخت له ژوندیو مرکو یا د راډیو د زنګ وهلو له پروګرامونو ډډه کوي. د یوه افغان میډیا استازي ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل چې طالبانو ورته ویلي: "تاسو کولی شئ د خلکو زنګونه ترلاسه کړئ، خو باید د دوی د تلیفون شمېره ثبت کړئ او د نوم او پته پوښتنه ورڅخه وکړئ. که دوی د زده کړې یا بشري حقونو په اړه پوښتنه وکړه، نو موږ ته یې معلومات راولیږئ." دغه استازی وایي: "دا به په حقیقت کې موږ د طالبانو لپاره جاسوسي ته اړ باسي".

۳۶. د رسنیو د سازمانونو د ترسره شوو سروې کانو پر اساس، د طالبانو له واکمنېدو وروسته په لومړیو شپږو میاشتو کې له ۳۰۰ ډېرې میډیا مؤسسې بندې شوې. دا بندیدل د طالبانو محدودیتونو، مالي ستونزو او د کارکوونکو د هېواد پرېښودو له امله وو. دا لږ کې څه هم په کمه کچه، خو لا هم دوام لري. د ۲۰۲۴ اتکلونه ښیي چې په دې کال کې له ۱۰ څخه زیاتې میډیا مؤسسې یا بندې شوې یا یې فعالیت وځنډول شو. د ببلګې په توګه، په دسمبر کې طالبانو "ارزو تلویزیون" د دې په تور وترلو چې ګواکې اسلامي ارزښتونه او ملي دودونه یې نقض کړي او بهرنی لاسوهنه پکې شوې ده.

۳۷. د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د ژوندیو موجوداتو د انځورونو خپرول منع کړي، چې عملاً یې د تلویزیوني چینلونو فعالیت ته خنډونه پیدا کړي او هغوی یې اړ کړي چې یا خپل فعالیت ودروي او یا یوازې غږیز پروګرامونه خپاره کړي. د دې قانون پلي کېدل ورو، په غیر مساوي او تدریجي توګه روان دی. د راپور ورکولو پر مهال، دا بندیز په یو شمېر ولایتونو کې، لکه بادغیس، هلمند، کندهار، تخار، او تر یوه حده په ننګرهار کې عملي شوی و. له بله پلوه، د حاکمو چارواکو یو شمېر ویاندیانو لا هم په ټولنیزو رسنیو کې د ژوندیو موجوداتو انځورونه او ویډیوګانې خپروي.

۳۸. د میډیا سکتور علاوه، د مدني ټولنې سازمانونه او د هغوی غړي هم د خپلو فعالیتونو په اړه سخت محدود شوي دي. د ببلګې په توګه، غیردولتي سازمانونه یوازې د بشري مرستو او پرمختیایي فعالیتونو ترسره کولو ته محدود شوي دي. له ۲۰۲۳ کال د پای څخه وروسته، کله چې د حاکم وزارت د اقتصاد له لورې د عامه پوهاوي، سولې جوړونې، او حمایتي فعالیتونو په اړه مخه ونیول شوه، هغه سازمانونه چې په دې برخو کې فعالیت کوي، په ځانګړي ډول د روغتیا او حفظ الصحې پوهاوي او د بشري حقونو ترویج، خپل فعالیتونه محدود کړي دي.

۳۹. کمې او کیفي معلومات ځرګندوي چې د غیر دولتي سازمانونو پر فعالیتونو محدودیتونه لګول شوي دي، د غیر دولتي سازمانونو استازي د ښځو اړوند نوښتونو لپاره د ستونزو یادونه کوي، د ښځو له خوا لاسلیک شوي اسناد ردیږي او ټینګار کېږي چې د غیر دولتي سازمانونو په مشرتابه کې د ښځو ځای باید نارینه ډک کړي.

۴۰. که څه هم په مختلفو سیمو کې شرایط توپیر لري، د ملي غیر دولتي سازمانونو استازو ځانګړي راپور ورکوونکي ته د دفترونو کې د ښځو او نارینه وو جلاوالي، د ښځینه کارکوونکو د دفتر یا ساحې ته د تګ محدودیتونه، په ځانګړي ډول د محرم شرط له امله، او د محدودیتونو له کبله د ښځینه مراجعینو د ملاتړ ستونزو

په اړه معلومات ورکړی. ځانګړی راپور ورکوونکی له هغو مواردو خبر دی چې د ښځو لپاره د غیر دولتي سازمانونو فعالیتونه او بشري مرستې د دوی نارینه کورنیو غړو ته ورکول کیږي. همداراز، د غیر دولتي سازمانونو استازو د طالبانو ناځاپي ځارونو ته اندېښنه ښودلې ده.

۴۱. طالبان د هنري ازادۍ مخه نیسي، په ځانګړي ډول د شاعرانو، لیکوالانو او موسیقارانو، چې ډېری یې اوس ځان‌سانسور ته مجبور شوي دي. طالبانو د موسیقۍ آلات سوځولي او ګڼ شمېر کتابونه او نورې خپرونې یې منع کړي چې پکې د سیاست، د ښځو د پیاوړتیا او ځه نور د حقوقو موضوعات شامل دي. ځانګړي راپور ورکوونکي د ۴۰۰ ځخه زیاتو بند شوو سرلیکونو لیست ترلاسه کړ، چې طالبانو یې د بندیز دلیلونه داسې یاد کړي دي: د ملي کټو او عقایدو خلاف، تکراحي مسایل، د خلکو احساسات تحریکول، او پر افکارو منفي اغیز او نور.

۴۲. افغانانو ځانګړي راپور ورکوونکي ته اندېښنه څرګنده کړې چې طالبانو په پوهنتونونو کې بدلونونه راوستي، مسلکي استادان او مدیران یې لیرې کړي او پر ځای یې خپل کسان مقرر کړي، چې لازمې علمي وړتیاوې نه لري. یو پوهنتون استاد وویل چې طالبانو دوه‌کونی سیستم رامنځته کړی "که څوک له طالبانو سره هم‌نظر نه وي، نو د مسلکي پرمختک مخه یې نیول کېږي. او کارکونکي یا استادان له فشار سره مخ دي پشمول د ږیرې اوږدوالي له امله له هغوی ځخه د استعفا غوښتنه کېږي." له همدې امله، ډېرې علمي ځېرې له هېواده وتلي دي.

۴۳. طالبانو د اسلام د مختلفو تفسیرونو د محدودولو لپاره هم اقدامات کړي دي. د دوی د پوهنې وزارت له نظره ټول هغه کتابونه چې د سني او حنفي فقهې له عقایدو سره په ټکر او تضاد کې وي، باید له تعلیمي ادارو او کتابتونونو لرې کړل شي. سربېره پر دې، طالبانو د سپټمبر په میاشتکې یو فرمان صادر کړ، له عالمانو یې غوښتنه کړې چې له جنجالي موضوعاتو ځخه ځان وساتي او بحث یې نکړي، ځکه دا "خلک کمراه کوي، په ټولنه کې نفاق، کډوډي او اندېښنې رامنځته کوي".

ج. اقلیتونه

۴۴. افغانستان د قومونو، مذهبونو، ژبو او مختلفو ټولنو ځای دی، چې د پېړیو په اوږدو کې یې د خلکو، تاریخ، کلتور، میراث، خوړو او فیشن بډایې ته لویه برخه ورکړې ده. طالبان د یووالي، ثبات او په اسلامي سیستم کې د مساوي حقوقو پر اهمیت ټینګار کوي. خو، د افغانستان بېلابېلو اړخونو له ځانګړي راپور ورکوونکي سره خپلې زیاتېدونکې اندېښنې شریکې کړي، چې دا اندېښنې د تبعیض، محرومیت، تاوتریخوالي، د خوندیتوب نشتوالي، او د پخوا سرغړونو د نه پټندلو په اړه د قومي او مذهبي توپېرونو پر بنسټ راپورته شوي دي. د حاکمو چارواکو زیاتره وخت داسې ښکاري چې د دې شکایتونو نه منلو یا حل کولو ته تیار نه دي. ځانګړی راپور ورکوونکی یادونه کوي چې د قومیت او مذهب پر اساس د تاوتریخوالي او بېلتون زیاتېدل د راتلونکې تاوتریخوالي لپاره مهمې خبرتیاوې یا نښې دي.

۴۵. ځانګړی راپور ورکوونکی وایي اقلیتونه باید حق ولري چې په هغو پریکړو کې ګډون وکړي کوم چې د دوی ټولنو او سیمو ته اغیز رسوي، هغه که په ملي او یا هم سیمه‌ییزه کچه وي. خو، پښتانه نړدې ټول لوړ پورې مقامونه لري. په حاکمو ادارو کې د اقلیتونو نه شتون د بې‌عدالتي ادعاوې رامنځته کړي چې په دې کې ځینې مهمې برخې لکه د بشري مرستو ویش، ټولنیز امنیت، قضایي پریکړې، رسنۍ، د دولتي ادارو کې د کار موقعیتونه، او حکومتي پالیسۍ لکه مالیات، تدارکات، او جواز ورکول شاملې دي.

۴۶. په حاکمو ادارو کې د استازو د کمښت له کبله، د ۲۰۲۱ کال د اکسټ د میاشتې راهیسې، د اقلیت ټولنو غړي د دولتي خدمتونو ځخه بې برخې شوي دي. زیات شمېر خلک وایي چې په دوی د استعفا کولو لپاره فشار راوړل شوی، چې له دې امله د مالي زیانونه سره مخ شوي دي. که ځه هم په تخنیکي برخو کې یو ځه اقلیتونو لپاره لا هم د کار فرصتونه شته، خو ویل کېږي چې قضایي او امنیتي ادارو کې ورته د وظیفو لپاره ځای نه ورکول کېږي. د پښتو ژبې مهارت او مذهبي پوهې ازمویني هغه نوي شرایط دي چې د اقلیتونو لپاره د دولتي خدمتونو کې د کار چانسونه نور هم کم کړي دي.

۴۷. په دې اړه، ځانګړی راپور ورکوونکی خبرداری ورکوي چې د پښتنو هویت باید د طالبانو له ملاتړ سره و نه تړل شي. پښتانه بار بار راپور ورکوونکي ته وایي چې د نورو قومي ډلو له لوري له تبعیض سره مخ دي، په دې غلط تصور چې ګواکې دوی د طالبانو ملاتړي دي. ځانګړي راپور ورکوونکي یادونه کوي چې ګڼ شمېر پښتانه، په ځانګړي توګه پښتنې ښځې او نجونې، فعالان، پخواني دولتي کارکوونکي، امنیتي ځواکونه او قاضیان او وکیلان د طالبانو لخوا ترسره شوو بشري حقونو د سرغړونو له امله په شدید ډول متاثر شوي دي.

۴۸. د معتبرو سرچینو له مخې، طالبانو پښتو د یوازینۍ رسمي ژبې په توګه په پراخه کچه عملي کړې ده. د مثال په توګه، د مرکزي افغانستان یوې تاجکې مېرمنې ویلي چې د ودانۍ جواز ترلاسه کولو لپاره یې غوښتنلیک رد شو، ځکه چې غوښتنلیک یې په دري ژبه لیکل شوی و او پخپله یې لاسلیک کړی و. هغه دې ته

اړ شوه چې د کورنۍ یو نارینه غړی د رسمي غوښتونکي په توګه وټاکي او سند پښتو ته وژباړي، ترڅو یې ښځه غوښتنلیک ومنل شي. د اقلیت ژبو ویونکو ویلي چې د دوی په ژبه د رسنیو خپرونې او زده کړې کمې شوې دي.

د اقلیتونو پر ضد تاوتریخوالی او ګواښونه

۴۹. د راپور ورکولو په موده کې، د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان (داعش) ډلې خپلو بریدونو ته دوام ورکړ، چې په هدف کې یې د مذهبي لږکیو غړي، په ځانګړې توګه شیعه مسلمانان – چې اکثراً د هزاره قوم اړوند دي – او صوفیان وو. ځانګړي راپور ورکوونکي د نورو مذهبي اقلیتونو لکه سیکانو، هندوانو او عیسویانو پر ضد بریدونه هم راپور کړي دي. د ببلګې په توګه، د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۱۲مه، وسله والو کسانو د دایکندي ولایت د سنګ تخت ولسوالۍ کې چې د غور ولایت پولې ته نږدې موقعیت لري ۱۴ نارینه شیعه هزاره ملکي وو په ډزو ووژل چې ترځنګ یې ځلور تنه نور نارینه شیعه هم ټپیان شول. د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان (داعش) ډلې د برید مسوولیت په غاړه واخیست او شیعه کان یې د "مرتد" په نوم یاد کړل، چې یوه سپکاوی کوونکې اصطلاح ده. له دې پېښې دوه نیمې میاشتې وروسته، د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۱مه وسله والو کسانو د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ په یوه عبادت ځای کې د خپلو مذهبي مراسمو پر مهال ۱۰ صوفیان ووژل. د برید مسوولیت د د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان (داعش) ډلې واخیست او ادعا یې وکړه چې دوی د "شرک پالونکي سیفیه فرقې" غړي، چې د صوفیزم یوه ډله ده، په نښه کړي دي.

۵۰. طالبانو په علني توګه د پاس دوو ذکر شوو پېښو په اړه خپل مخالفت څرګند کړی، راپورونه وایي چې دوی یې پلټنه کړې او ځینې کسان یې نیولي دي، خو داسې ښکاري چې د قربانیانو د وضعیت ته یې پام نه دی کړی.

۵۱. ځانګړی راپور ورکوونکی بیا ټینګار کوي چې د عراق او شام اسلامي دولت-خراسان (داعش) لخوا د ځانګړو مذهبي ګروپونو پر ضد بریدونه، چې تر ټولو زیات زیان یې هزاره کان ګالي، د نړیوالو جرمونو نښې دي. هغه د دغو پېښو په اړه د ژورو څېړنو، مسوولیت اخستلو او د قربانیانو د ساتنې غوښتنه کوي او د افغانستان په قومونو او مذهبي ټولنو باندې د بریدونو لپاره د نړیوالې خبرنې ملاتړ بیا تکراروي.

۵۲. ځانګړي راپور ورکوونکي له پنجشیریانو او سلفیانو څخه معلومات ترلاسه کړي، چې د طالبانو لخوا په نښه شوي، ځکه چې د دوی جغرافیایي اصل یا مذهب ناحقه د هغو وسله والو ډلو سره تړل کېږي چې له طالبانو سره په جګړه کې دي.

۵۳. ځانګړي راپور ورکوونکي د افغان عیسویانو او بې دینه کسانو سره خبرې کړي، او ویلي یې دي چې که څه هم هغوی هیڅکله د خپلې عقیدې په اړه ښکاره بیان نه ووکړی، خو د طالبانو د واکمنۍ څخه وروسته پر هغوی فشار زیات شوی او هغوی ځینې تدابیر نیولي ترڅو خپلې عقیوې یا پټې وساتي او یا د هېواد څخه ووځي.

IV. ځانګړې اندېښمنې ډلې

الف. ماشومان

۵۴. ځانګړی راپور ورکوونکی د افغان ماشومانو په خرابېدونکي وضعیت ډیره اندېښنه لري. طالبانو د ماشومتوب دورې لپاره نوی تعریف ټاکلی، چې د ۱۸ کلنۍ پر ځای د بلوغ نښې یې د پای حد ګڼلی. دا کار نه یوازې د نړیوالو ژمنو سره په تکر کې دی، بلکې ماشومان له اړینې ساتنې، ملاتړ او پاملرنې څخه بې‌برخې کوي. دا ستونزه د پرله‌پسې تعلیمي محدودیتونو، ژور بشري بحران، په کم عمر کې د وادونو زیاتوالی، د "بچه‌بازي[8]" په خبر ناوړه استفادې، او د ماشومانو جبري کار له امله لا پسې جدي شوې ده.

جدي سرغړونې

[8] یو عمل چې پکې سړي هلکان د تفریح او جنسي استثمار لپاره پیړي او ساتي.

۵۵. ځانګړی راپور ورکوونکی وایي چې باید پر ماشومانو[9] باندې د جدي سرغړونو مخنیوی وشي او دا ستونزه حل شي، په داسې حال کې چې افغانستان په دې برخه کې د نړۍ له بدترینو هېوادونو څخه ګڼل کېږي. په افغانستان کې د چاودېدونکو موادو له املې د ماشومانو د وژل کیدو او ټپي کیدو شمېر لا هم حیرانونکی دی. دوه پر درېمه برخه د افغانستان ولسوالۍ د چاودېدونکو موادو له خطر سره مخ دي، چې په میاشت کې د ۵۰ نه زیات ملکي تلفات رامنځته کوي. د تلفاتو لوبه برخه چې د جنورۍ ۲۰۲۲ نه تر فبروري ۲۰۲۴ پورې شاوخوا ٪۸۶ ته رسېږي، ماشومان دي، او په دې کې بیا زیاتره یې هلکان دي.

۵۶. په جګړو کې د ماشومانو استخدام او د وسلې والو ډلو په تبلیغاتو کې د هغوی استحصال لا هم یوه جدي اندېښنه ده. ځانګړی راپور ورکوونکی په ۲۰۲۳ کال کې د ملګرو ملتونو د څو له املې د طالبانو له خوا د هغو ۳۳۳ ماشومانو خوښې کولو ته اشاره کوي چې په جګړه او د جګړې په ملاتړ کې فعال وو. په ۲۰۲۲ کال کې، طالبانو د هغو ماشومانو د جذب منع کولو فرمانونه صادر کړل چې د بلوغ نښې یې نه وې ښودلې. ځانګړی راپور ورکوونکی وایي چې د ټولو هغو کسانو د استخدام او کارونې د مخنیوي لپاره، چې عمر یې له ۱۸ کاله کم دی، نور اقدامات اړین دي، په شمول د عمر معلومولو. هغه غوښتنه کوي چې ټول ماشومان چې د وسلې والو ډلو سره تړاو لري، ژر تر ژره خوشې شي او د نړیوالو ژمنو سره سم مناسب حفاظتي مرجعو ته ورکړل شي.

۵۷. وسلې والو ډلې، د طالبانو په شمول، لا هم ښوونځي اشغالوي او له هغوی څخه کار اخلي په ځانګړې توګه په پنجشیر ولایت کې.

افغانانو د ماشومانو د وادونو په اړه ځانګړي راپور ورکوونکي سره بیلابیلې پېښې شریکې کړې دي، چې پکې د طالبانو غړو پر ضد شکایتونه هم شامل دي. د مثال په توګه، یو افغان ځانګړي راپور ورکوونکي ته د ۲۰۲۴ کال د یوې پېښې په اړه داسې ویلي دي چې د طالبانو یو قوماندان د یوې ۱۴ کلنه نجلۍ سره پرته د هغې او د هغې د مور په رضایت د واده کولو لپاره ټینګار کړی و: "طالب قوماندان منځنی عمر او دوه ښځې لري. د یو ګاونډي کلي مشران راغلل او د منع کیدو لپاره یې ورسره یې خبرې وکړې خو قوماندان پخپله خبره ټینګ پاتې شو [...] طالب هغوی ته د واده د تیارې لپاره وزې، پسونه او وریجې ولېږلې. خو نجلۍ د واده د ترسره کولو نه مخکې ځان وژنه وکړه".

د روغتیا اوزده‌کړې حق

۵۸. انګړی راپور ورکوونکی د افغان ماشومانو د روغتیا لپاره د جدي ګواښونو یادونه کوي، چې د زیاتیدونکي محدودیتونو له املې یې وضعیت خراب شوی دی، پشمول د ښځو او نجونو لپاره د طبي روزنې بندیز چې د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په میاشت کې اعلان شو. بشري مرستندویه اداري وایي چې ۱۲.۴ میلیونه ماشومان مرستې ته اړتیا لري، او ۳.۵ میلیونه ماشومان د خوړو د کمښت سره مخ دي. ځانګړی راپور ورکوونکی همدارنګه د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې دکورونو په کچه د پولیو واکسینونو د تعلیق په اړه اندېښمن دی، په داسې حال کې چې د پولیو پېښې په ۲۰۲۴ کال کې ۱۷ ته لوړې شوې چې په ۲۰۲۳ کال کې یې ۶ وې. اوسنۍ د واکسینو سیستم چې په مسجدونو کې ترسره کېږي، واکسین ته د لاسرسي په برخه کې یو لوی شاتک دی، په ځانګړې توګه د ماشومانو او نجونو لپاره.

۵۹. زده‌کړه یو بنسټیز حق دی او د زیان څخه د ساتنې لپاره ډیره مهمه او اړینه ده. ځانګړی راپور ورکوونکی د ښځو او نجونو لپاره د شپږم ټولګي څخه پورته زده‌کړو باندې د بندیزونو په اړه ډیره اندېښنه لري. د ۲۰۲۴ کال د اګست په میاشت کې، د ملګرو ملتونو د تعلیم، ساینس او کلتور سازمان راپور ورکړی چې لږ تر لږه ۱.۴ میلیون نجونو ته د دې بندیز له املې د تعلیم لاسرسی رد شوی دی. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په میاشت کې د حاکم چارواکو لخوا په یو حکم کې په څرګند ډول ویلي چې دا بندیز د خصوصي تعلیمي مرکزونو لپاره هم تطبیقېږي. هغه کسان چې د ښځو او نجونو د زده کړې د حق ملاتړ کوي، لکه ښوونکي او نور فعالان، د ګواښونو، ډارولو او غیر قانوني نیولو له خطر سره مخ دي. ځانګړی راپور ورکوونکی د هغو کسانو ملاتړ کوي چې د ښځو او نجونو د برابر تعلیمي حق لپاره غږ پورته کوي، پدې کې هغه مسلمانه هېوادونه شامل دي چې دا د اسلام یو اساسي مسؤولیت ګڼي[10]، او همداراز د طالبانو دننه هغه کسان چې د زده کړې د حق ملاتړ کوي.

۶۰. له هغه وخت راهیسې کله چې طالبان واک ته رسېدلي، د افغانستان د زده‌کړو وضعیت په پوره ډول بدل شوی، او ټول پاملرنه یې په مدرسو ګرځېدلی ده. د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر میاشت کې، حاکم پوهنې وزارت اعلان وکړ چې په ټول هېواد کې ۲۱,۲۵۷ اسلامي تعلیمي مرکزونه شتون لري، چې له دې جملې څخه یې ۱۹,۶۶۹ مدرسې دي، چې دا شمېر د دولتي او خصوصي ښوونځیو له تولیز شمېر (۱۸,۳۳۷) څخه ډېر دی.

---

[9] د جدي سرغړونو په اړه نور معلوماتو په دې کې وګورئ. https://childrenandarmedconflict.un.org/six-grave-violations/

[10] د بیلګې په توګه: د اسلام‌آباد اعلامیه په مسلمانو ټولنو کې د نجونو د تعلیم په اړه، ۱۲ جنوري ۲۰۲۵.

۶۱. تحلیل ښيي چې مدرسې د سبک او تدریسي تکلارې له پلوه ډیر توپیر لري؛ چې ځینې د اړوند وزارتونو لخوا تنظیمېږي، ځینې یې شخصي ادارې اداره کوي، ځینې یې د ټولنې پر بنسټ ولاړې دي، او ځینې یې داخلي (لیلیه‌یي) بڼه لري. مدرسې له پېړیو راهیسې د ټولنې د ژوند او کلتوري هویت یوه اساسي برخه پاتې شوې دي، او د دیني زده‌کړو، ټولنیز ملاتړ او اخلاقي لارښوونې مرکزونه ګڼل کېږي.

۶۲. افغانانو له ځانګړي راپور ورکوونکي سره خپلې اندېښنې شریکې کړې چې په مدرسو کې ناسم مدیریت، فساد، تاوتریخوالی، او د عمر له پلوه نامناسب درسونه او "جهادي" تعلیم ورکول کېږي. هغوی ټینګار کړی چې د دیني زده‌کړو ترڅنګ باید یو متوازن نصاب رامنځته شي، چې انتقادي تفکر، ساینس او بشري علوم هم پکې شامل وي. ځینو افغانانو اندېښنه ښودلې چې که مدرسې د عصري عامه زده‌کړو ځای ونیسي د اقتصادي ستونزو په موجودیت کې نو دا کار کولی شي سخت دریځي ته لاره هواره کړي او د افغانستان او سیمې ثبات ته زیان ورسوي.

۶۳. ځینې افغانان باور لري چې د مدرسو زده‌کړې کولی شي د هغو ماشومانو لپاره بدیل وي چې رسمي ښوونځیو ته لاسرسی نه لري، او همدارنکه نجونو ته دا فرصت ورکړي چې په داسې وخت کې یو ټولنیز ځای او اعتماد ومومي، په داسې شرایطوکې چې نور فرصتونه شتون نه لري.

۶۴. ځانګړی راپور ورکوونکی وایي چې د مدرسو زده‌کړې کولی شي کلتوري او معنوي وده پیاوړې کړي، خو نشي کولی د پراخې او رسمي زده‌کړې ځای ونیسي. هغه د حاکمو چارواکو ته سپارښتنه کوي چې خپل مسؤلیتونه ترسره کړي، ترڅو زده‌کړه هرارخیزه، د بشري حقونو پر بنسټ ولاړه او ټولو ته د لاسرسي وړ وي، د ماشومانو وړتیاوې پیاوړې کړي او د بشري حقونو درناوی ته وده ورکړي.

ب. ځوانان

۶۵. د افغانستان ځوانان د راتلونکې رهبران دي. له هغه وخت راهیسې چې طالبان واک ته رسېدلي، دوی د مدني ټولنې په فعالیتونو کې فعاله برخه اخیستې، چې پکې مظاهرې هم شاملې دي، خو دا اعتراضونه د طالبانو له لوري د زور زیاتي، غیر قانوني نیونو او جرم ګڼلو سره مخ شوي دي. سره له ټولو ننګونو، افغان ځوانان لا هم زغم، خلاقیت، او نوښت ښيي. هغوی غواړي چې د خپل هېواد د راتلونکو حل‌لارو په موندلو کې فعاله ونډه واخلي. خو ډېرى باور لري چې د ځوانانو نظرونه په نړیوالو بحثونو او د افغانستان اړوند پرېکړو کې له پامه غورځول شوي، خو ډېرى ځوانان باور لري چې د دوی غږونه په نړیوالو بحثونو او د افغانستان اړوند پرېکړو کې نادیده نیول شوي، چې د همدې له امله ځینو د نړیوال ځوانانو کانکرس غوښتنه کړې ده. یوه افغانه نجلۍ، چې له هېواده وتلې، ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل" :مورږ په ماضي کې نه یو پاتې، مورږ د راتلونکي لپاره فکر کوو. مورږ غواړو ځواکمن شو".

۶۶. ځانګړي راپور ورکوونکي په افغانستان کې د ټولو ځوانانو ستونزې روښانه کوي، چې د دوامداره ظلم، اقتصادي بحران او بشري ناورین له امله رامنځته شوي. ځوانې ښځې د طالبانو د سختو محدودیتونو تر ټولو زیات زیان ویني، چې د دوی په ذهني روغتیا یې ډیره اغیزه کړېده، او د خپګان، ځانوژنې یا د ځانوژنې افکارو په اړه د اندېښنې وړ لوړ شمېر راپورونه ورکړل شوي دي.

ج. جنسي تمایل او جنسیت هویت

۶۷. د همجنسګر (LGBT+) افغانان د خپل جنسي تمایل او جنسیتي هویت په وجه ځورول کېږي. د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون دا ډول جرم نور هم رسمي کوي. ځانګړی راپور ورکوونکی په خاصه توګه د همجنس‌ګرایی د تورونو په وراندې د فزیکي سزا ورکولو لپاره ډیره اندېښنه لري. د ببلکې په توګه، د ۲۰۲۴ کال دسمبر په ۱۲ مه سترې محکمې اعلان وکړ چې په کندوز کې درې نارینه د "لواطت" په تور نیولي چې هر یو یې ۳۹ دورې وهل شوي او له ځلورو څخه تر اوو کلونو پورې په بند محکوم شوي دي.

۶۸. ځانګړي راپور ورکوونکي د طالبانو له واکمنۍ راپدیخوا د +LGBT افغانانو د نیولو، بندي کولو، شکنجې، ناوړه چلند، او حتی جنسي زورونې پېښې ثبت او مستند کړي دي. د +LGBT افغانانو خپلوان او په شمول د هغه کورنۍ غړي چې نور په افغانستان کې نه اوسېږي هم د انتقامي چلند سره مخ دي چې پکې نیونې، کوابښونه، او فزیکي تاوتریخوالی شامل. یوه ټرانسجینډره ښځه ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل چې کله هغه له هېواده وتښتېده، د طالبانو اړوندو کسانو د هغې د کورنۍ غړي ونیول، ووهل او ځورول: "هغوی مورږ انسانان نه ګڼي. هغوی ما او زما کورنۍ یوازې د جنسیتي هویت له امله په نښه کړل".

د. معلولیت لرونکي اشخاص

۶۹. په افغانستان کې د فزیکي معلولیت لرونکو او ذهني یا رواني معلولیت لرونکو سره تبعیض اوځنډې ته کول یې نوې مسئله نه ده. حاکم چارواکو د معلولیت لرونکو اشخاصو د ثبت او هغوی سره د مالي مرستو د ورکړې اعلانونه کوي، خو ځانګړي راپور ورکوونکي ته لا هم د مرستو د نه ورکولو، نابرابر چلند، او نااندولە ملاتړ راپورونه رسېږي، ویل کېږي چې طالب پلوه کورنۍ له امتیازي چلند ځخه برخمنې دي.

۷۰. معلولیت لرونکي کسان د تبعیض له ببلابېلو بنو سره مخ دي، چې عمر، جنسیت، قومیت، او اقتصادي حالت هم پکې شامل دي. په خاصه توګه هغه افغانې ښځې او نجونې چې معلولیت لري، د تاوتریخوالي او ناوړه چلند له جدي خطر سره مخ دي او د اساسي خدمتونو او بشري مرستو ته د لاسرسي لپاره ډېرې ستونزې لري. یوه افغانه مرستندویه کارکوونکې، چې خپله هم معلولیت لري، ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل: "ځینې معلولې نجونې په میاشتو میاشتو له کورونو ځخه نه وځي. هغوی اکثراً یوازېتوب، ژور خپګان، او د ځان باور کمښت احساسوي".

هـ. مشران (زیات عمر لرونکي) اشخاص

۷۱. ځانګړی راپور ورکوونکی د افغانستان د مشرانو خلکو د وضعیت په اړه اندېښنه لري، ځکه چې دوی اکثراً له ناسم چلند او بېپروایی سره مخ وي. هغوی معمولا روغتیایي پاملرنې او حرکت (تک راتک) لپاره ځانګړې مرستې ته اړتیا لري، په عمومي توګه، د بشري مرستې لاس ته راوړلو کې له ستونزو سره مخ وي او ډېر وخت د خپلو کورنیو غړو پر ملاتړ تکیه کوي.

۷۲. مشرانو خلکو د ۲۰۲۴ کال د اپرېل په میاشت کې د طالبانو له لورې د دولتي تقاعدي سیستم له منځه وړلو له امله سخت زیان لیدلی دی. ډېرو متقاعدینو د تیرو ځو میاشتو یا حتی کلونه معاش نه و ترلاسه کړی. شاوخوا ۱۵۰,۰۰۰ متقاعدین، چې پکې کونډې هم شاملې دي، د طالبانو د واک ته رسېدو وروسته دوی خپل میاشتني تقاعدي معاشونه له لاسه ورکړل. چې له امله یې اقتصادي ستونزې زیاتې شوې او متقاعدین یې د معاشونو د نه ورکړې پر ضد مظاهرو ته اړ کړي دي. د دسمبر میاشت کې طالبانو یو فرمان صادر کړ چې د متقاعدینو د معاشونو د قضیو د حل لپاره باید ځانګړې محکمې جوړې شي. د دې فرمان له مخې، که غوښتنلیک بریالی هم شي، تقاعدي معاشونه به په داسې ډول ورکړل شي چې په عمومي بودیجه دروند فشار رانه شي. دې راپور د چمتو کولو پورې هیڅ پرمختګ نه و راپور شوی او د مستحقینو وضعیت لا هم نامعلوم پاتې و.

و. داخلي بې ځایه شوي اشخاص

۷۳. په افغانستان کې د ځلورو میلیونو ځخه زیات خلک د جګړو، اقتصادي بېثباتۍ، طبیعي پېښو او سیاسي بحرانونو له امله د اوږدې مودې راهیسې بېځایه شوي دي. د کډوالو نړیوال سازمان د اټکل له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې به نږدې ۹۰۰,۰۰۰ نور کسان هم بېځایه شي. بېځایه شوي کسان، په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان، تر ټولو زیانمنو ډلو ځخه ګڼل کېږي. دوی له ګڼو ستونزو لکه د خوراکي توکو کموالی، جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي، سرپناه، زده‌کړو، کار او روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي د کمښت سره مخ دي.

۷۴. د وضعیت لا خرابېدو لامل هغه نړیوال کډوال دي چې د جبري بې ځایه کېدو له امله په غیر رسمي سیمو کې اوسېږي (د نورو معلوماتو لپاره، لاندې VI.C برخه وګورئ) او د راستنېدونکو کسانو لوړ شمېر، سره له دې چې د ملکرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د نه‌راستنېدنې مشوره ورکړې وه. د کډوالو نړیوال سازمان لخوا په ۲۰۲۴ کال کې له ایران اسلامي جمهوریت ځخه ۱.۲ میلیون بې اسامه افغانان راستانه شوي، پداسې حال کې چې د ایران چارواکو اعلان کړی چې تر ۲۰۲۵ کال مارچ میاشت پورې به ۲ میلیون نور هم راستانه کړي. د پاکستان حکومت په سپتمبر ۲۰۲۳ کې د هغو کسانو د راستنیدو لپاره یو پلان اعلان کړ چې د معتبر اسناد یې نه درلودل، چې له امله یې شاوخوا ۷۸۰،۰۰۰ افغانان له پاکستان ځخه افغانستان ته بېرته راستانه شول چې پکې هغه افغانان هم شامل وو چې هېڅکله افغانستان کې نه وو اوسیدلي او یا هم قانوني اسناد یې لرل. سره له دې چې بشري مرستندویه اداري او حاکم چارواکي هڅې کوي تر ځو وضعیت کنټرول کړي، خو د راستانه شویو کسانو لوړ شمېر بشري مرستو باندې فشار راوړی.

ز. کډوال

۷۵. په ټوله نړۍ کې له شپږو میلیونو څخه زیات افغان کډوال موجود دي[11]. ډیری افغانان چې خپل هېواد یې پرېښی په غیر رسمي لارو وتلي چې خپلې دردونکې تجربې یې ځانګړي راپور ورکوونکي سره شریکې کړي دي، چې پکې د چارواکو، کورېه ټولنو، او ځینې وخت د قاچاقبرانو لخوا تاوتریخوالې او کوابښونه شتون لري. په خاصه توګه ښځې او ماشومان د استثمار او قاچاق له خطر سره مخ دي.

۷۶. ځانګړي راپور ورکونکي د ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان او ترکیې اوږده تاریخچه معلومه ده چې د افغان کډوالو لوېې برخې مېشت کې یې مهمه ونډه ادا کړې ده. سره له دې هغه افغانان په دې هیوادونو کې ژوند کوي، د ځانګړي راپور ورکوونکي سره اړیکه نیولې او افغانستان ته د راستنېدو په صورت کې یې د ظلم او ځوروني ویره څرګنده کړې. پشمول د هغو کسانو چې نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري، لکه ښځې او انجونې، LGBT+ اشخاص، د پخواني دولتي کارکوونکي، پوځي کارمندان، قاضیان، پراسیکوټرانو، اقلیتونه، د بشري حقونو مدافعان، فعالان او خبریالان. ځینې افغانان خپلو ګاونډیو هیوادونو ته وتښتیدل، په دریم هېواد کې د بیا استوکنې د نښو ترلاسه کولو وروسته دوی د رد یا منفي بیا استوکنې پروګرامونو سره مخ شول.

۷۷. هغه افغانان چې د (ډیپورټ) ایستلو له خطر سره مخ دي، د اړینو اسنادو د ترلاسه کولو یا تمدید پر مهال له سختو ستونزو او ناعادلانه چلند سره مخامخ کیږي. ځینې یې بیا وایي چې د بندیکېدو، باج اخیستنې او ایستلو د وېرې له امله له خپلو کورونو څخه نه وځي. ځانګړی راپور ورکوونکی د هغو راپورونو په اړه اندېښنه ښودلې چې پکې ویل شوي، افغانان د سرحدي ساتونکو لخوا، د پولو د تېرېدو پر مهال، د ایستلو په پروسه کې یا د کورونو د تلاشۍ پر مهال له تاوتریخوالې او ځوروني سره مخ شوي دي.

۷۸. ډېر افغانان د کورېه هېواد په اساسي خدماتو کې د لاسرسي څخه محروم شوي یا له دې خدماتو د استفادې لپاره له مشکلاتو سره مخ دي. د عاید د نشتوالي له امله، دوی اړ شوي چې غیر رسمي کارونه وکړي چې ترڅو ځان او خپلې کورنۍ ته نفقه پیدا کړي. ځانګړي راپور ورکوونکي بېرته خپل هیواد ته د جبرې ستنولو او د یو مور یا پلار له جلا کولو په اړه هم راپورونه اوریدلي دي. ځانګړي راپور ورکوونکي د رواني روغتیا پر اغیزو او په دې ډول حالاتو کې د کورنۍ تاوتریخوالې د خطر په اړه خبرداری ورکوي.

۷۹. ځانګړي راپور ورکوونکي اندېښنه څرګنده کړې چې یو شمېر افغانان په کلاکان د سیستان او بلوچستان د ایران اسلامي جمهوریت په ولایت په لړې پرتو سیمو کې د اکتوبر په ۱۳مه شپه وژل او ټپیان شوي دي. د ایران اسلامي جمهوریت د دې پېښې مسؤلیت رد کړی او ادعا یې کړې چې د دوی سرحدي ساتونکي په دې پېښه کې ښکېل نه وو. طالبانو د ځپرنو لپاره یوه کمېټه جوړه کړې او راپور یې ورکړی چې دوه مړي افغانان او ۳۴ شاهدان، چې ځینې یې ټپیان دي، بېرته افغانستان ته راوګرځول. که څه هم لومړنیو راپورونو د سلګونو قربانیانو ادعا کوله چې معلومات یې تر اوسه تایید شوي نه دي. ځانګړی راپور ورکوونکی د شفافو تحقیقاتو، د مسؤلینو محاسبې او د افغان کډوالو د خوندیتوب لپاره عاجلو اقداماتو غوښتنه کوي.

۸۰. ځانګړی راپور ورکوونکی د ټولو هېوادونو څخه غوښتنه کوي چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري هیواد ته د نه راستنیدو مشورې درناوی وکړي او د کډوالو د نه شړلو مسولیتونه په پوره دقت سره عملي کړي، په خاصه توګه د انفرادي خطر ارزونو بغیر د شړلو پر وراندې خبرداری ورکوي. هغه بیا هم د هېوادونو څخه غوښتنه کوي چې د کورېه هېوادونو سره لا زیات ملاتړ وکړي او افغانانو ته د بیا مېشتېدو ډېر فرصتونه وراندې کړي.

۸۱. ځانګړي راپور ورکوونکي د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر کې د اروپایي اتحادیې د عدلیې محکمې پرېکړې هرکلی کوي، چې له مخې یې افغان ښځو کډوالو ته د جنسیت او تابعیت پر بنسټ پناه ورکولو حق ورکول کیږي، او ټول هېوادونه هڅول کیږي چې دغه تکلاره ومني. که څه هم دغه تکلاره ښه ده، خو دا د اروپایي اتحادیې ځخه بهر د خوندي لارو او ساتنې تضمین نه کوي.

۷. ملکي او سیاسي حقونه

الف. د ژوند او شخصي امنیت حق، له محکمې پرته اعدامونه، شکنجه او ناوړه چلند

[11] نور معلوماتو په دې کې وګورئ: https://www.unhcr.org/refugee-statistics/download.

۸۲. د ۲۰۲۴ کال په دویمه نیمایي کې، طالبانو د داسې جسمي سزاګانو پلي کول چټک کړي چې د شکنجې او نورو ناوړه چلندونو برابر دي. د ۲۰۲۴ کال د جولای او دسمبر ترمنځ، لږ تر لږه ۳۱۱ کسانو (۲۶۴ نارینه او ۴۷ ښځې) ته د واکمنې ستړې محکمې د اعلانونو له مخې جسمي سزا ورکړل شوې. د زیاترو کسانو لپاره دا سزاګانې د بندي کېدو سربېره د ۳۰ دورو وهل شامل وو. دغه شمېرې د ۲۰۲۴ کال د لومړۍ نیمایي سره په پرتلې ۲۲ سلنه زیاتوالی ښایي، چې ۲۵۴ کسانو (۲۱۶ نارینه او ۴۰ ښځو) ته ورته سزا ورکړل شوې وه. هاغه "جرمونه" چې د دغه ډول سزاګانو لامل شوي دي، غلا، "اخلاقي فساد"، زنا، لواطت او غیرقانوني اړیکې شاملې دي. د (LGBT+) ټولنې غړي او ناوادې شوي ځوانانو ځانګړې زیان لیدلې دی.

۸۳. د نومبر پر ۱۳مه، د حاکمو مقاماتو شپږمه د عامو خلکو او حاکم چارواکو په شتون کې په عام محضر کې غرغره (اعدام) د پکتیا ولایت، په ګردېز کې په یوه لوبغالي کې، د *قصاص* (د غچ د سزا ډول) سزا تر سر سرلیک لاندې ترسره کړه. ځانګړې راپور ورکوونکی ټینکار کوي چې عامه اعدامونه د ژوند د حق او د شکنجې، ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو سزاګانو د منعې اصول نقضوي. نومورې په ځانګړې ډول اندېښنه لري چې شاوخوا ۳۰ نور د اعدام قضیې د مشرتابه د تائید وروسته عملي کېدونکې دي، او د ټولو جسمي او غرغرې (اعدام) د سزاګانو د سمدستي بندېدو غوښتنه کوي.

۸۴. ځانګړې راپور ورکوونکې د محاکمو له خوا جسمي او اعدام د سزاګانو وراخوا، په توقیف ځایونو کې، د غیرې رسمي توقیف ځایونو په ګډون، د شکنجې او ناوړه چلند، په ځانګړې ډول د پلټنو او تحقیقاتو پر مهال، په اړه اندېښنه لري، سره له دې چې د واکمنو چارواکو له خوا پرې ښکاره بندیزونه لګول شوي دي. د بخښنې د اعلان سره سره، پخواني حکومتي چارواکي، د اردو او پولیسو پخواني غړي د خپل سري نیولو، توقیف، شکنجې، ناوړه چلند او غیر قانوني اعدام له جدي ګواښ سره مخ دي. ډېرې پخوانیو چارواکو، د هغه ښځو پر ګډون چې په پولیسو کې پې دنده ترسره کړې، د خپل ځان او خپلو کورنیو د خوندیتوب لپاره په بهر کې بیا میشتېدو غوښتنه کوي، مګر ډېرې وخت د دوی غوښتنې نه منل کېږي. ځانګړې راپور ورکوونکی د پخوانیو چارواکو په اړه راپورونه تر لاسه کړي چې له کلونو راهیسې په پټه ژوند کوي. د پوځ یو پخوانی غړی چې د افغانستان په مرکز کې پټ ژوندکوي، ځانګړي راپور ورکوونکي ته ویلي: "*زه له میاشتو راهیسي له یو ځای ځخه بل ځای ته کډه کوم، خو طالبان بیا هم تېره اونۍ زما د مور او پلار کور ته ورغلي وو او له هغوی ځخه پې پوښتنه کوله چې زه چېرته یم.* ,,

۸۵. په افغانستان کې د ښکېلو خواوو، د طالبانو، د عراق او شام اسلامی دولت د خراسان ځانګې او مخالفو ډلو په ګډون، او د پاکستان له لوري پر کرښه، د بریدونو له لامله وروستي ملکي تلفات، رامینځ ته شوي. ځانګړې راپورورکوونکی ټینکار کوي چې ټولې خواوې باید نړیوال بشر دوستانه قانون او نړیوالوبشري حقونو قانون مراعات کړي، چې پکې د ملکي وګړو او جنګیالو ترمنځ د توپیر اصول، د بې توپیره بریدونو او د ملکیانو د هدف کرځولو منع شامل دي.

ب. د قانون حاکمیت او د عدالت تطبیق

۸۶. ځانګړی راپور ورکوونکی لا هم د قانوني دادمنتیا له نشتوالي، د قانون د پلي کېدو پر مهال خپل سري اقداماتو، او له تبغیض پرته د عادلانه محاکمو د حق په اړه ژوره اندېښنه لري، چې په ځانګړي ډول زیانمنې شوې ډلې لکه ښځې، ماشومان او لږکی اغېزمن کېږي.

۸۷. له هغه وخته چې طالبانو واک تر لاسه کړی، دوی د اساسي قانون او جزا قانون په ګډون پخواني قوانین"ځنډولي" دي. سره له دې چې طالبانو د دغو قوانینو د بیا کتنې ادعاوې کړې او د اساسي قانون د مسودې د چمتو کېدو ناتایید شوي راپورونو سره سره، هیڅ د پام وړ پرمختک نه دی اعلان شوی او له ښکېلو خواوو سره هېڅ مشورې نه دي شوي.

۸۸. د واکمنو چارواکو پراخ اختیار او غیرمتناسب واک ورکول چې احکام او د احکام اجرا د کمې ځارنې یا هیڅ ډول ځارنې پرته پلي کوي. د بیلګې په توګه، د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون له مخې، *محتسبینو* ته پراخ واکونه ورکړل شوي دي، پرته له دې چې د حساب ورکولو او واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي د دادِ ترلاسه کولو لپاره اړین چک او توازن شتون ولري.

۸۹. ځانګړی راپور ورکوونکی داسې مالومات هم ترلاسه کړي چې د طالبانو غړو له خوا د قانونې پروسې پرته یا د رامینځ ته شوي قانوني طرزالعملونو خلاف سزاګانې او نور اقدامات ترسره کړي دي. افغانانو پر کورونو باندې، پرته له ښکاره قانوني حکم، د تاوتریخوالي ډک یرغل ورورلو اړوند د افغانانو اندېښنې راپورته کړي.

۹۰. ډېرې افغانانو ځانګړي راپور ورکوونکي ته دا هم څرګنده کړې چې وروسته له دې چې طالبانو په سیسماتیک ډول د قضا او ځارنوالۍ ښځینه او نارینه کارکوونکو پر ځای داسې نارینه داسې کسان راوستل چې د حقوقي زده‌کړو څخه برخمن نه دي، پر قضایي سیستم باور د لاسه ورکړی دی.

۹۱. د مدافع وکیلانو د مسلکي فعالیت ورتیا په ټولو ولایتونو کې ناڅرګنده او متضاده دی. په ځینو ولایتونو کې نارینه وکیلان، مګر ښځینه نه، کولای شي په مدني او جزایي محکمو کې د خپلو مؤکلینو استازیتوب وکړي، ځانګړي راپور ورکوونکي مالومات تر لاسه کړي چې په هرات او کابل کې ښځې کولای شي د کورني تاوتریخوالي په قضیو کې د موکلینو وکالت وکړي، دا پداسې حال کې ده چې په جلال‌آباد کې هم نارینه او هم ښځینه وکیلان له وکالت کولو څخه منع شوي دي. په مزار شریف کې ځینو ښځینه وکیلانو ته اجازه ورکړل شوې ده چې په جزایي او مدني قضیو کې د مؤکلینو وکالت وکړي.

۹۲. که څه هم د طالبانو د قضایي سیستم دننه شکایتونو ته د رسیدلو میکانیزمونه شته، خو دا سیستمونه د خپلواکو ځارونکو د نشتوالي، د استیناف غوښتنې محدود اختیار، او تبعیضي کړنو له امله له ستونزو سره مخ دي. په قضایي سیستم کې د نظامي محکمو شاملول، د خپل سري او جسمي سزاګانو تطبیق، او د روښتیا نشتوالی دا ناشونې کوي چې دغه جوړښتونه به د عادلانه محاکمو یا حساب ورکولو تضمین وکړي.

VI. اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه

الف. اقتصادي وضعيت

۹۳. همداراز افغانستان د ډيرې لاملونو له لامله اغېزمن شوی چې د يو جدي بشري او اقتصادي بحران سره مخ دی، چې د اقليمي بدلونونو، طبيعي پېښو، او د لسيزو جګړو، سره سره د طالبانو پالېسيو، او د نړيوال ملاتړ کمښت پکې ګډون لري. د دوو کلونو د پام وړ اقتصادي زوال وروسته، د هېواد ناخالص داخلی تولید په ۲۰۲۳ مالي کال کې ۲،۷ سلنه زيات شوی دی، چې د تېرو دوو کلونو د ناخالص داخلي تولید د زيان يوائې ۱۰ سلنه جبرانوي. پداسې حال کې چې شنونکي داسې ننېې وينې چې ښايي سيمه‌ييز اقتصادي فعاليت د رسمي شمېرو په پرتله ډېر وي، خو افغانان لا هم له فقر، بيکاری، سربېره د خوراکي توکو له کمښت، او روغتيا او تعليم ته د محدود لاسرسي له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

۹۴. که څه هم طالبانو په ملي عوايدو کې د دوامداره لوړوالي ادعا کړې، خو د خپلو حکومتي لګښتونو يا بوديجې جزئيات يې نه دي افشا کړي. اقتصادپوهان نظر ورکوي چې د عامه لګښتونو تمرکز تر ډېره پر امنيتي سکتور پر تمويل دی او، که څه هم تر ډېره حده پورې بنسټيزه اړتياوو لکه روغتيا او تعليم ته ډېره کمه بوديجه ځانګړې شوې. د بوديجې د تخصيص په برخه کې د رونټيا نه شتون دا ستونزمنوي چې د بشري حقونو پر وضعيت يې احتمالي اغېز و ارزول شي.

۹۵. ښځينه سرپرسته کورنۍ او بې‌ځايه شوي وګړي همداراز د بې‌کاری يا کم کار لوړه کچه، محدودې ټولنيزې خوندیتوب، او د ښځو لپاره ځانګړو محدوديتونو له لامله د اقتصادي کړاونو سره لاس او ګرېوان دي. د جنسيت پروړاندې ظالمانه سيستم نه يوائې ښځو او د هغوی کورنۍ زيانمنوي، بلکې د افغانستان اقتصادي پرمختګ هم پر شا تمبوي.

۹۶. د يوې دوامداره بيارغونې لپاره چې ټول افغانان يې احساس کړي، د پالېسيو جدي بدلون ته چې پرته له تبغيض د ښځو د کار او زده کړو له حقونو څخه ملاتړ کوي، اړتيا ده، د افغانانو د اساسي اړتياوو لپاره دوامداره نړيوال ملاتړ چې يوازې د بشري مرستو پورې محدود نه وي، تضمين شي. ځانګړی راپور ورکوونکی په افغانستان کې د شرکتونو لپاره د سوداګرۍ او بشري حقونو د اصولو د لارښودونو سره سم د سوداګري د ترسره کولو پر اړتيا باندې ټينګار کوي.

ب. بشري ناورين

۹۷. وړاندوويته کيږي چې په افغانستان کې د خوړو د خوندیتوب او خوارځواکۍ خطرناکه کچه به په ۲۰۲۵ کال کې هم دوام ومومي. سره له دې چې د خوړو او کرنيزو مرستو په کډون مخ پر زياتيدونکي پرمختګونو ، بيا هم د نفوس شاوخوا دريمه برخه، نږدې ۱۵ ميليونه خلک، د ۲۰۲۴-۲۰۲۵ کال د ژمي په جريان کې د خوړو د شديد کمښت سره مخ وو. شاوخوا ۳ ميليونه ماشومان چې عمرونه يې له پنځو کلونو کم دي او ۱ ميليونه امينډواره او شيدې ورکوونکې ميرمنې د شديدې خوارځواکۍ سره مخ دي. ښځې او نجونې د ځانګړو محدوديتونو له امله له ځانګړو خنډونو سره مخ دي چې دوی د کټې وټې کولو، مرستو او بازار ته د لاسرسي او د خوړو د خوندي کولو مخه نيسي.

۹۸. پر ښځينه مرستندويه کارکوونکو محدوديتونه د زيانمن ښځو او ماشومانو لپاره د بشري مرستو پروګرامونه اغېزمنتوب د خنډ سره مخ کوي. د ۲۰۲۴ کال په دسمبر کې، واکمن اقتصاد وزارت د يو ليک پواسطه، د افغانانو لپاره د بشري او انکشافي مرستو همغږۍ اداره چې د نادولتي موسسو د همغږۍ پليټ فارم دی، پر ادرس اعلان وکړ، چې د هغه نادولتي موسسو د فعاليت جوازونه به لغوه کړي که چېرې دوی ښځې استخدام کړي، په دې توګه په دې سکتور کې د ښځو د کار کولو بنديز چې دوه کاله د مخه پيل شوی، بيا تکراروي. د بشري چارو د همغږۍ دفتر لا دمخه د محرم سختو شرايطو يادونه کړې ده چې د ښځو لپاره اړينې مرستې نورې هم د خنډ سره مخ کوي. ددې راپور د ليکلو تر مهاله، وضعيت په لويه کچه بدل شوی نه ښکاريده، او نه د وزارت د ليک اغيز روښانه و.

۹۹. په ۲۰۲۴ کال کې د ۲۸۸ روغتيايي ځارنو د اسانتياوو د تړلو په ګډون له امله، چې ۳.۳ مليون کسان يې اغيزمن کړل، په روغتيا سکتور کې وضعيت خراب شو. هغه خلک چې په لرې پرتو او محرومو سيمو کې ژوند کوي ، په ځانګړې توګه ښځې، ځوانې نجونې، ماشومان، بې ځايه شوي کسان او معلوليت لرونکي کسان، تر ټولو ډير اړمن دي. (د نورو معلوماتو لپاره، . III.A، IV.A او IV.D پورته برخې وګورئ). ځانګړی راپور ورکوونکی په ځانګړې توګه د طبي متخصصينو کمښت، او له لامله يې د رواني او فزيکي روغتيايې پاملرنې د خرابوالي په اړه اوس او راتلونکي لپاره اندېښمن دی.

۱۰۰. د اقليمي بدلون او چاپېريال پر وړاندې زيانمنتيا او ور ته نه چمتوالی، د افغانستان د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو د تحقق لپاره بنسټيزه خنډونه دي. افغانستان له اقليمي بدلونو پورې اړوند وچکاليو، سېلابونو، او همداراز د ژوند د چاپېريال اړونده اندېښنو لکه د هوا او اوبو ککړتيا، او د ځنګلونو د وهلو سره مخ دی، چې د خوراکي توکو پر ډاډمنتيا، روغتيا، او فقر ناوړه اغېزې لري. په ځانګړې ډول ماشومان له دې وضعيت څخه زيات زيان وينې. په ۲۰۲۴ کې د نړيوالو بشري مرستو تمويل تقريباً تر ۱،۶ ميلياردە ډالر پاتې شو، چې د غوښتل شوي مقدار ۵۲ سلنه ده چې د ۲۰۲۳ کال په اندازه وه. ځانګړی راپور ورکوونکی له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د خورو امنيت، روغتيا پاملرنې او ټولنيز خوندیتوب کې د مهمو تشو د حل لپاره بشري تمويل پراخ کړي، او د جنسيت اړونده حساس پروګرامونو ته لومړيتوب ورکړي.

۱۰۱. بشري مرستو ته لاسرسی سخت محدود شوی، د بشري چارو د همغږۍ دفتر له ۱۶۰۰ څخه زياتې د لاسرسي پېښې ثبت کړې، چې زياتره يې د بشري فعاليتونو په پلي کولو کې د مداخلې، په ګډون ګڼې د جنسيتي محدوديتونو پورې تړلې وې. واکمنو مقاماتو هڅه کړې چې د بشري برنامو پر محتوا نفوذ ولري، د کارکوونکو معلوماتو غوښتنه، او د ښځينه کارکوونکو پر فعاليت محدوديتونه، چې له امله يې د ګڼو بشري پروژو د خنډ لامل شوي دي.

۱۰۲. ځانګړی راپور ورکوونکی تل افغانستان ته د نغدو پيسو د لېږد په اړه له ناسمو معلوماتو او غلطو اندونو سره مخ شوی. دا پيسې د ملګرو ملتونو او نړيوالو ادارو لخوا د بشري مرستو لپاره ټاکل شوي دي، نه د طالبانو لپاره ورکول کېږي، لکه څنګه چې ځينې وخت ناسمه ادعا کېږي. د

نورو معلوماتو لپاره، ځانګړي راپور ورکوونکي د یوناما د ۲۰۲۳ جنوري د نغدو پیسې د لېږد د مدیریت لپاره توضیحي یاداشت[12] ته اشاره کوي. نومورې ملګري ملتونو او نادولتي موسسې هڅوي چې د نړیوالو مرستو د لګولو ځارنې ته دوام ورکړي، او په اړه یې ورسره رونې او علني اړیکې وساتي.

۱۰۳. ځانګړی راپور ورکوونکی د طالبانو د نومول شویو غړو او اړوندو اشخاصو او ادارو پر وړاندې د امنیت شورا د بندیزونو د دوام ملاتړ کوي، په عینی حال کې د بشري مرستو او لومړنیو بنسټیزه اړتیاوو لپاره د وړاندې شوي مهم معافیت ته هم نغوته کوي. . هغه د بندیزونو له حده زیات د پلي د سختوالي له خطر څخه هم خبرداری ورکوي.

۱۰۴. ډیرې وندې وال فکرمند دي چې د افغانستان کنګل شوې شتمني به څنګه وکارول شي. چې دا مهال ۳.۸۹ ملیارد ډالرو ته رسیږي، ځانګړی راپور ورکوونکی د افغانستان د خلکو لپاره د وجهې صندوق اداره کوونکو، څخه غوښتنه کوي

چې د پیسو د مینځلو، د ترهګرۍ د مالي ملاتړ پر ضد اقدامات، او د بودیجې د سمون لپاره لازم احتیاطي تدابیر چټک پلي کړي، تر څو دا شتمنۍ ژر تر ژره د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره ولګول شي.

ج. د استوګنې، ځمکې، او ملکیت حقوق

۱۰۵. د هیواد له کوټ کوټ څخه افغانان، په ځانګړې توګه هغوی چې د لرې‌کیو پورې اړه لري، د ځمکې په سر د شخړو د قضیو په اړه په زیاتېدونکې توګه راپورته شوې اندېښنې د ځانګړي راپور ورکوونکي سره شریکې کړې دي. دا قضیې ډیرې وختونه د دریمې ډلې له خوا پر ځمکې د دعوو، د واکمنو چارواکو لخوا د زیربنایی پروژو لپاره، او همدراز د ځمکې د مصادرې کولو پورې اړه لري چې طالبان یې غصب شوې زمکې ګڼي، چې د جبري شړلو او بې ځایه کیدو لامل کیږي، او همدارنګه د ژوندانه د سرچینو د له مینځه تللو لامل شوي، په ځانګړې توګه په هغو قضیو کې چې څرګندونه پکې شامل دي. ځانګړی راپور ورکوونکی په ځانګړي ډول د دغه ډول شخړو د نااندولې اغېزو له لامله چې د لرې‌کیو او بې ځایه شوو خلکو پر بشري حقونو پرېږي، اندېښمن دی.

۱۰۶. اقلیتونه، په ځانګړي ډول، د هغو اشخاصو او ډلو سره مخ دي چې ګمان کوي د دوی د ځمکو دعوې د پخواني حکومت لخوا په ناعادلانه توګه رد شوې وې او د طالبانو د واک له نیولو راهیسې یې بیا خپلې دعوې تازه کړې دي. هزاره‌ګانو، ازبکانو، او ترکمنانو له ځانګړي راپور ورکوونکي سره د مستندو شواهدو پر بنسټ مالومات شریک کړي، چې ځینې اشخاص، چې طالبان یې ملاتړ کوونکي ګڼل کېږي، د دوی پر مېشتو ځمکو دعوې کړي. په ځینو مواردو کې، ځانګړي کمیسیونونه یا د واکمن محاکم پدا ډول دعوو باندې پرېکړه کوي، خو د مدعی علیه اړخونه له خوا دا پروسې عادلانه او بې‌طرفه نه ګڼل کیږي.

[12] وګورئ https://unama.unmissions.org/cash-shipments-un-afghanistan-%E2%80%93-info-sheet.

۱۰۷. په هرصورت، په ډیری داسې قضیو کې، دا دعوې محکمې ته نه رسیږي، بلکې د تاوتریخوالي، ګواښونو او ډارولو له لارې حل کیږي. د افغانستان له شمال څخه یو ازبک کس ځانګړي راپور ورکوونکي ته وویل چې څنګه د کوچیانو یوې ډلې د هغه د کورنۍ پر ځمکه دعوه وکړه:

"په سیمه ییز جومات کې اعلان وشو، چې یو کوچی زمونږ پر ځمکه دعوه کړې. کله چې کارکوونکي پر هماغه ورځ ځمکې ته ولاړل چې پر هغې کې کار وکړي، وسلوالو کوچیانو هغوی ته د داخلېدو اجازه ورنه کړه. کله چې دوی مقاومت وکړ، کوچیانو پر دوی ډزې وکړې... ... مونږ طالبانو ته خبر ورکړ، مګر هغوی له مونږ سره مرسته ونه کړه."

۱۰۸. په ځانګړي ډول په ښاري سیمو کې، واکمنو چارواکو د زیربنایي پروژو لپاره ځمکې هم مصادره کړي او دوی ادعا کوي چې هغه زمکې بیرته ترلاسه کړي چې غصب شوي عامه ځمکې دي. دا کړنې، په عمومي توګه، پرته له لازمو احتیاطي تدابیرو ترسره کېږي، لکه مشوره او تاوان ورکول، تر څو پر زوره د ویستلو، بې‌ځایه کېدو، او د خلکو د ژوند او ځواک (معیشت) د له منځه تلو مخه ونیول شي. که څه هم طالبان ادعا کوي چې متضررینو ته تاوان ورکوي، خو په عمل کې قربانیان چې زیاتره یې د لازمو سندونو چې طالبانو ته د منلو وړ وي د نشتون له امله د تاوان غوښتنه نه‌شي کولی.

هغه بې ځایه شوي کسان چې د ښارونو شاوخوا ستراتیژیکو ځایونو کې په غیر رسمي میشت ځایونو کې ځای پر ځای شوي دي د جبري ایستلو له خطر سره مخ دي. په کابل کې د رسنیو د څېړنو له مخې، هغه سیمې چې پکې بې ځایه شوي او قومي لږکیو میشت دي د زیربنایي پراختیا لپاره د ځمکې پاکول، له لامله په نااندولە توګه ډول اغیزمن شوي دي.

د. کلتوري حقونه

۱۰۹. د افغانستان بډایه کلتوري میراث لاهم د پام وړ ننګونو سره مخ دی. د "اخلاقي فساد" په نوم د خلکو د ساتنې د پالیسۍ په پلمه د هنري ازادۍ مخه نیول شوې. په افغانستان کې هنرمندان اړ دي چې سختدریځه ځان‌سانسوري عملي کړي، تر څو د "غیر اسلامي" فعالیتونو له تور څخه خلاص شي. پر هنري بیان او کلتوري فعالیتونو محدودیتونو، خلاقیت او کلتوري ژوند ته لاسرسۍ زندۍ کړی دی. عکاسان، موسیقي غږوونکي، نقاشان، او هنرمندان د خپلسري نیونو، سانسور، ځوروني، او د اموالو یا ملکیت د ویجاړولو، د موسیقۍ الاتو، کتابونه او فلمونه په ګډون، له خطر سره مخ دي. د امربالمعروف او نهې عن المنکر قانون وضعیت لا پسې خراب کړی دی، ځکه چې پدې قانون کې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو چاپول یا خپرول، د غوندو او یا کورونو څخه د موسیقۍ خپرولو ممنوعیت هم شامل دی.

۱۱۰. ځانګړی راپور ورکوونکی د واکمنو ادارو له خوا پر هنر او موسیقۍ د بندیزونو د احتمالي اوږدمهاله اغېزو په اړه ځانګړي اندښمن دی. د کلتور له مینځه وړل، نه یوازې ټولنې د خپل شریک میراث څخه محرومول، بلکې ټولنیز انسجام او هویت ته هم زیان رسوي. د افغانستان د هنري او موسیقي دودونو د خوندي ساتلو لپاره، او د هیواد دننه او بهر، د کلتوري تمرین کونکو لپاره د خوندي ځایونو چمتو کولو لپاره نړیوال ملاتړ اړین دی.

سپورت

۱۱۱. طالبانو ښځو او نجونو په ورزش کې پر ګډون بندیز پر ځای ساتلی دی، لېواله ځوانان، شوقیان او مسلکي کسان د ټولنیز او کلتوري ژوند له یوې اړینې برخې څخه بې برخې شوي، چې دا د دوی پر فزیکي او رواني روغتیا باندې ناوړه اغېزې لري.

۱۱۲. د ۲۰۲۴ کال د اولمپیک او پارالمپیک سیالیو په جریان کې، یوازې هغو افغان ښځینه ورزشکارانو چې په بهر کې میشتې وې، د سیالۍ توان درلود. هغه افغان ښځینه ورزشکارانو چې په جلاوطنۍ کې ژوند کوي ځانګړي راپور ورکوونکي ته ویلي چې دوی د افغانستان استازیتوب ته دوام هڅه کوي. په هرصورت، د نړیوالو سپورتي ادارو لخوا د ملاتړ نشتوالي، سره له دې چې د جنسیت مساوات ته ژمنې دي دغه چاره د ننګونو سره مخ ده. د ببلګې په توګه، افغانستان د ښځینه کرکټ رسمي پېژندل شوی لوبډله نه لري، سره له دې چې د کرکټ نړیواله شورا د خپلو بشپړو غړو څخه د افغانستان په ګډون غوښتنه کړې چې د "د ښځو لپاره قناعت ور د لارې جوړښتونه ولري" او د جنسیت پر وراندې د تبعیض ضد کړنلارې چې جنسیتي تبعیض ته نغوته کوي، ژمن پاتې شي[13].

۱۱۳. ځانګړي راپور ورکوونکي د نړیوالو ورزشي جوړښتونو څخه غوښتنه کړې، چې د ښځو او نجونو د ګډون تعهداتو ته ژمن پاتې شي او له افغان ښځو سره په مشوره، پرېکنده اقدامات ترسره کړي.

VII. حساب ورکونه او نړیوال غبرګون

۱۱۴. په افغانستان کې د بشري حقونو ناوړین د لسیزو جګړو څخه سرچینه اخلي، د طالبانو پر ګډون، ټولو ښکېلو غاړو، له بشري حقونو څخه سرغړونې کړې دي. د معافیت فضا دغه سرغړونو دوام ته اجازه ورکړې، چې ورسره سوله او عدالت زیانمن شوي. په افغانستان کې د حساب ورکولو هڅې محدودې دي، او د ادعا شوو بشري حقونو سرغړونو او نړیوالو جرمونو په اړه هیڅ رښتینې پلټنې نه ترسره کېږي. له سزا څخه معاف کېدل قربانیان زیانمنوي او په افغانستان او سیمه کې د ثبات مخنیوی پراخوي. په پرېکنده ډول د بشري حقونو سرغړونکو ته یو قوي پیغام ورکول شي، چې کړنې به یې دوی لپاره بدې پایلې ولري.

۱۱۵. ځانګړی راپور ورکوونکی د افغان مدني ټولنې فعالانو او د بشري حقونو عالي کمېشنر له سپارښتنو سره چې پکې د حساب ورکونې لپاره هر اړخیزه تګلاره ,,د ټولو وسایلو تګلاره,, سره همغږي څرګندوي. د هېواد دننه او بهر افغانانو سره سلا مشورې ښایي چې افغانان یوازې جزایي محکمو باندې بسنه نه کوي بلکې دوی د بشري حقونو تأمین، حقیقت ویل، تاوان ورکول، ټولګډون، د قربانیانو یاد غوښتونکي او شاید بلاخره پخلاینې ته هم اړتیا لري.

[13] د کرکټ نړیوالې شورا د غړیتوب معیارونه او د نړیوال کرکټ لپاره د هغې د تبعیض ضد پالیسي وګورئ.

۱۱۶. د راپور ورکولو پر مهال د نړیوال عدالت هڅو پرمختګ کړی .د ۲۰۲۵ د جنورۍ په پای کې، د نړیوالې جزایي محکمې څارنوال د افغانستان د وضعیت په اړه د تحقیقاتو په تړاو د څېړنو لپاره دوو لومړنیو غوښتنلیکونو وروسته، د طالبانو د امیر، هبت‌الله اخندزاده او قاضي القضات عبدالحکیم حقاني د نیولو حکم، چې پکې د جنسیت پر بنسټ ازار او ځورول او د بشریت پر وړاندې جرم د تورونه پر بنسټ اعلان کړل. څارنوال نغوته کړې چې د طالبانو د غړو پر ضد به نور غوښتنلیکونه ډېر ژر وځېړل شي. د ۲۰۲۴ کال په سیپتمبر کې ځینو حکومتونو پرېکړه وکړه چې د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له مینځه وړلو کنوانسیون څخه سرغړونو له لامله، افغانستان مسؤل وګڼل شي، دا احتمال شته چې دا قضیه به د عدالت نړیوالې محکمې ته راجع شي. ځانګړی راپور ورکوونکی د دغه ډول پرمختګونو ملاتړ کوي او د پام وړ بشپړتیا ته سترګې پرلار دی. نوموړی، په ځانګړې ډول د نیاو په تولو هڅو کې د افغانانو، په ځانګړې ډول د افغانو ښځو او له پامه غورځول شو تولنو سره د رونو اړیکو او د هغوی ته د ګډون پر ورکولو پر اهمیت باندې ټینګار کوي.

۱۱۷. ځانګړی راپور ورکوونکی هېوادونه هڅوي، چې د چکړې د تولو خواوو له خوا د سرغړونو لپاره نړیوال قضایي صلاحیت موضوع وځېړي، همداراز په افغانستان کې خپل پخواني رول ته کتنه وکړي تر څو د حقیقت راڅرګندولو، او تاوان ورکولو په برخه کې چېرته چې اړتیا وي حساب ورکول چمتووالی وشي. د ببلګې په توګه، استرالیا حکومت د افغانستان د پلټنو د پایلو پر بنسټ د زیانمنو شوو کورنیو لپاره د تاوان ورکولولپاره د مرستو یوه طرحه رامینځ ته کړه.

۱۱۸. د بشري حقونو د سرغړونو مستندول د حساب ورکولو د هڅو لپاره کلیدي اهمیت لري .ښه تمویل شوي انستیتیونه، همداراز ښه سمبال شوې مدني ټولنې او رسنۍ هم ډېرې اړینې دي. پداسې حال کې چې شته میکانیزمونه، د ببلګې په ډول د جزا نړیوال دېوان، یوناما، او ځانګړی راپور ورکوونکی په ببلا ببلو برخو کې د اسنادو په راټولولو کې ښکېل دي. ځانګړی راپور ورکوونکې د افغان او نړیوالو مدني ټولنو له خوا د مستند کولو د هڅو د پیاوړتیا په ګډون، د یو ځانګړي راپور ورکوونکې د مامؤریت ساتلو سره سره، او په ورته وخت کې د یو داسې بې پرې څېړنیز میکانیزم رامینځته کول چې په ازادانه ډول د جرمي حساب ورکولو د بیا څېړنو وړتیا او پراخه ساحه ولري د هڅو ملاتړ کوي. په هر حال، داسې اکسیر نشته پرته له دې چې ګډ کار ,,ټول ابزار,, د انتقالی عدالت یو پراخ لمنې لاره رامینځته کړي، کوم چې د یو تلپاتې سولې لپاره اړتیا ده.

۱۱۹. ۲۰۲۴ په ډسمبرکې، عمومي اسامبلې د بشریت پروړاندې د جرمونو د مخنیوي او سزا په اړه د ملګري ملتونو ټولواکه استازو کانفرانس ۱۲۲/۷۹ پرېکړه لیک تصویب کړ، چې له مخې به یې تر ۲۰۲۹ کال پورې د بشریت پر وړاندې جنایتونو د مخنیوي او سزا لپاره یو قانوني پابندۍ سند ته مخه هواره کړي. ځانګړی راپور ورکوونکی دا پرمختګ د بشریت پر وړاندې د جرم په توګه د جنسیتي اپارتید د کوډ کولو او نړیوال پېژندنې لپاره یوه ځانګړې فرصت ګڼي.

۱۲۰. ځانګړی راپور ورکوونکی یو ځل بیا ټینګار کوي، چې د واکمنو چارواکو سره د هر ډول اړیکو تعامل باید د بشري حقونو د ښه والي پر ښودل شوو او ازاده توګه تایید شویو پرمختګونو ولاړ وي. یوازې ددغه چوکاټ دننه، نړیواله ټولنه کولی شي دوضعیت د غوښتنې سره سم جدي او په سمدستي توګه ځواب ووایي.

۱۲۱. ځانګړی راپور ورکوونکی یادونه کوي چې د دوحې فارمټ په چوکاټ کې، د ځینو هېوادونو او طالبانو په ګډون دوه تخنیکي کارې ډلې جوړې شوې، تر څو په خصوصي سکتور او د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې تمرکز وکړي. کور دننه او بهر د افغانانو په مینځ کې د دوحې په فارمټ کې د دوی نه استازیتوب او نه ګډون اړونده جدي اندښنې راولاړې کړي دي،

لکه د بلخ ولایت یوې مېرمنې وویل:

"هیڅوک له افغان مېرمنو څخه پوښتنه نه کوي، چې مونږ څه غواړو. دا مهال، مونږ هیڅ غږ نه لرو.."

۱۲۲. ځانګړی راپور ورکوونکی د افغانستان د راتلونکي په اړه په بحثونو کې د افغانانو، په ځانګړې توګه د افغان ښځو، ځوانانو او لږکیو، د معنی لرونکي ګډون غوښتنه کوي. د دوی مساوي، معنی لرونکی او خوندي ګډون د ډاډمن کولو لپاره، د شالید او عمرونو د تنوع د باوري کولو لپاره ډېرو هڅو ته اړتیا ده.

VIII. پایلې

۱۲۳. پس له دري نیمو کالونو د طالبانو د واک نیولو وروسته، په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت په پرلهپسې ډول خراب شوی. سره له دې چې لومړنیو ژمنو له مخې به د بشري حقونو نړیوال تړونونه مراعت کوي، دوی ګام په ګام او سیستماتیک ډول د ښځو او نجونو ظلمونه زیات کړي دي، او پرته له دې چې د خپلو سختدریځه اقداماتو د بدلون نښه وښایي. د نړیوالې ټولنې لخوا د طالبانو د مسؤل ګڼلو کې پاتې راتلل دوی نورهم زړورکړي دي.

۱۲۴. په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو لپاره او د سزا څخه د معافیت کلتورد پاي ته رسولو لپاره د یو غښتلې او همغږې نړیوالې ستراتیژۍ نشتوالی، د افغانانو لپاره وېجاړونکې پایلې لري. دولتونه د ښځو، سولې او امنیت اړوند، په خپلو مکلفیتونو کې پاتې راغلي، د افغانستان د بشري حقونو ناورین ته په پرلهپسې توګه نه پاملرنه یوه ناکامي ده، کوم چې د افغان وګړو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو پر ژوند به اغېزوکړي، چې سیمهییز ثبات، او نړیوال جنسیتي بر ابرۍ لپاره به پراخه پایلې ولري.

۱۲۵. ځانګړی راپورورکوونکی طالبانو سره د اړیکو په برخه کې پر اصولو، او حقونو پر بنسټ ولاړ چلند پر بېړنۍ اړتیا ټینګارکوي. هر ګام چې د اړیکو د عادي کولو لپاره اخیستل کېږي، باید د بشري حقونو د غوره والي پر بنسټ د ثابت او تایید وړ پرمختګونو پربنسټ وي. د روان ناورین پر

وړاندې ګام نه اخیستل، نه یوازې به دا کړکېچ د ملیونونو خلکو کړاوونه اوږده کړي، بلکې په نورو ځایونو کې به استبدادي رژیمونه هم وهڅوي، چې په نړیواله کچه د بشري حقونو او د ښځو د حقونو د شاتګ لپاره یو خطرناک پروسیجر جوړ کړي.

IX. سپارښتنې

۱۲۶. ځانګړی راپورورکوونکی د اندېښنې وړ بولي، چې په تېرو راپورونو کې طالبانو ته ورکړل شوې ډېرې سپارښتنې بې ځوابه پاتې شوي دي او نه دې پلي شوي. هغه یو ځل بیا د پخوانیو راپورونو څخه خپلې سپارښتنې تکراروي[14]. د جنسیت پر بنسټ ظالمانه او تبعیضي سیستم په ګډون، د نجونو پر زده کړو بندیز پای ته رسول، د ښځو او انجونو د کارکولو حق او پرګرځېدو ازادی، د ماشومانو ساتنه، د لږکیو پروړاندې تبعیض، عامه اعدامونه، ربړول، ناوړه چلند، خپل سرې نیونې او بندي کول، اقتصادي، ټولنیز، او کلتوري حقوق خوندي کول دي. د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون په اړه د ځانګړي راپورورکوونکي اړونده سپارښتنې د لاندې سپارښتنو سره باید یو ځای ولوستل شي.

۱۲۷. د پورته یادو شوو سپارښتنو سربېره، ځانګړی راپورورکوونکی له واکمنو چارواکو غوښتنه کوي چې سم له واره ګامونه پورته کړي :

(ا) د جنسیت پر بنسټ ظلم، او د تبعیض د بنسټیز سیستم پای ته رسول، د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون پرګډون، د ښځو لپاره د روغتیايي زده‌کړوپه اړه وروسته بندیز لغوه کول؛

(ب) په لوړ معیار د فزیکي او روانې روغتیا د لوړ معیار حق ډاډمن کول په ځانګړې ډول د جنسي او میندوارۍ روغتیا په برخو کې، په ځانګړې ډول د جنسیت او عمر اړوند اړتیاوو په نظر کې نیولو سره، د معلولیت لرونکو اشخاصو د اړتیاوو حقوق خوندي کول؛

(ج) د دې ډاډ ترلاسه کول چې ماشومان له زیان څخه خوندیتوب، په ګډون د هر ډول تبعیض پرته باکیفیته زده کړو ته لاسرسی چمتو کول، درسي نصاب چې پکې بشري حقونو ته احترام او فرهنګي تنوع وي چې دوی یو مسؤولانه ژوند ته په یوه ازاده او سوله لرونکې ټولنه کې اماده کړي، چمتو کول؛

(د) سانسور او د مخالفینو ځپل پای ته رسولو، لپاره د ټولو هغه کسانو خوشې کول، چې د بیان ازادي پې ګته اخیستې ده او بندیان شوي دي، او دا ډاډ ترلاسه کول چې خبریالان، د رسنیو کارکوونکي، د مدني ټولنو فعالان، اکادمیک، سیاسي فعالان او نورد ازار، ځورونې، خپل سر نیونې، شکنجې، او ناوړه چلند پرته فعالیت وکړای شي، د بیان ازادي او د غونډو ازادي ته وده ورکول؛

(هـ) ډاډ ترلاسه کول چې د لږکیو پورې اړونده خلک کولای شي د خپل کلتور، دین او ژبې څخه په ازاده توګه خوند اخلي، او د دوی پروړاندې د بریدونو او تبعیض مخه نیول، د مشورو له لارې، چې دوی پکې د تصمیم نیولو اغېزمنه برخه ولري پام کې نیول؛

(و) د شته سرچینو په شفاف او بشپړ ډول د لومړیتوبونو له مخې، چې اقتصادي، ټولنیز، او کلتوري حقونو، د خورو د حق، روغتیا، او زده‌کړو په ګډون، د پایښت او پراختیا اړوند، چې له هر ډول تبعیض څخه پرته تحقق ومومي، تخصیص کول؛

---

[14] په A/HRC/56/25 کې ورکړل شو سپارښتنو په ګډون

(ز) کورونو، ځمکو، او ملکیت حقونو پروړاندې د نړیوالو معیارونو او ژمنو ته پابندي او په جبري ډول د کور ځخه د شړلو، په ځانګړي ډول د بې ځایه خلکو او لرې کیو، مخه نیول؛

(ح) په عامه چارو کې د افغانستان ټولو خلکو، په ځانګړي توګه د ښځو، ځوانانو او لرکیو د معنی لرونکې وندې یقیني کولو لپاره اغېزمن اقدامات کول.

۱۲۸. د ځانګړي راپورورکوونکی هېوادونو ته سپارښتنه کوي چې په بېړنۍ توګه ګام پورته کړي:

(ا) د هېواد د راتلونکې اړونده په ټولو بحثونو کې د افغانانو، په ځانګړي ډول د افغان ښځو، لرې کیو، او له پامه غورځېدلو یا ځنډې ته شوو ډلو د بر ابر، بر ابر، معنی لرونکی او خوندي ګډون ډاډمن کول؛

(ب) د افغانستان د وضعیت د حل لپاره یو جامع عملي تګلاره خپلول، چې پکې د بشري حقونو معیارونه، مهالویش، او د ځارنې میکانیزمونه شامل وي، چې دا تضمین کړي چې د واکمنو چارواکو سره هر ډول تعامل عادي کول د بشري حقونو د ثابت غوره والي، د اندازه کولو وړ او په خپلواکه توګه منل شوي پرمختګونو پر بنسټ وي؛

(ج) د پراخ لمني انتقالي عدالت کړنلارې د یو برخې په توګه، د اوسنیو او پخو انیو جنایتونو او جرمونو د مسؤلیت منلو لپاره د قربانیانو پر محور متمرکزه لارو ملاتړ او پیاوړتیا، چې ملی او نړیوالو محاکمو او نهادونو له لارې، د مستند کولو لپاره پراخو هڅو له لارې، د ریښتیا موندنې او جبران ورکولو د نوښتونو د پراخولو له لارې، په ګډون د ملګري ملتونو په مشری د ښه سرچینو لرونکې خپلواک تحقیقاتي میکانیزم چې جامع ماموریت او پراخه ساحه لري، تر ځو د دوامداره سولې سره مرسته وکړي؛

(د) د جنسیت اپارتید د د بشریت پر ضد جنایت په توګه د کودړ کولو ځخه ملاتړ کول؛

(ه) په هېواد کې او په تبعید کې د رسنیو او مدني ټولنو ، په ځانګړي توګه د ښځو-محوره او د ښځو په مشری سازمانونو، پرلپسې ملاتړ او د اسانه لاسرسي تمویل زیاتول؛

(و) د افغانستان د خلکو د بنسټیزه اړتیاو چې بشردوستانه مرستو په ګډون، لپاره پرلپسې مالي ملاتړ چمتو کول، خو د بشري وراخوا د اقلیم او چاپېریال ساتنې اقداماتو لپاره هم مرستې پکې شامل وي؛

(ز) د نه جبران کولو د اصل په ګډون، د افغانانو بشري حقونه د نړیوالو معیارونو سره سم خوندي کول، له تاوتریخوالي، تبعیض، ځورونې، ربړونې او ډارونې، ځخه ډډه کول او د بیا مېشتېدنې او ملاتړ لپاره د کوربه هېوادونو لپاره پرمختللې لارې بر ابراول.

یزمختلی ایپت شوی نسخه